ملامت آنانند که بر مردم ظلمی می کنند
خداوند می فرماید: « هر آیینه وای (ملامت) بر آنانی است که برمردم ظلم می کنند و در زمین ناحق فساد می طلبند و آنان را است عذابی درد دهنده (شوری - ۳۲)

شریعت
اونیزه
د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریک نشراتی ارگان

کسی بر کسی ستم نکند
از عیاض رضی الله عنه روایت است که: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: هر آیینه خداوند بمن وحی نمود که فروتنی کنید تا کسی بر کسی ستم نکند و کسی بر کسی نتازد. (رواه مسلم - ریاض الصالحین)

لومړی کال | یوویشتمه گڼه | دوشنبه د۱۳۷۵ هـ ش کال د جوزا د میاشتی (۷) | د ۱۹۹٦ میلادی کال د می(۲۷) | د۱٤۱۷ ق کال محرم الحرام (۱۰)

دنوی ائتلاف د ملیشو شپږ بریدونه له غوڅی ماتی سره مخامخ شول

هوایی بمباری هغه مجرب هندی پیلوټان ترسره کوی چی د کمونیست رژیم په وخت کی یی د مجاهدینو په مرکزونو او استوگنی پرسیمو بمباری کولی.

په لسگونو مړی د جنگ په میدان پاتی او په سلگونو نوریی خپلو خپلو سیموته ولیږدول شول.

د کابل له چهار آسیاب څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی د طالبانو د اسلامی تحریک د مجاهدینو او دکابل د تش په نامه اداری او حزب اسلامی د ځواکونو تر منځ سختی وغری روانی دی. خبریال زیاتوی پنځه ورځی دمخه کله چی دکابل د اداری او حزب اسلامی ځواکونو په عینك کی د مسو په کان برید وکړ نو د طالبانو د اسلامی تحریك ځواکونو داسی پسی واخیستل چی تر بند غازی پوری یی وځغلول، د دښمن د ماتی خوړونکو افرادو په لسگونو تنه مړی د جنگ په میدان کی پاتی شول او په سلگونو نوریی خپلو خپلو سیموته ولیږدول شول. ٤مخ

در سایهء اعلان نام نهاد (تنفیذ شریعت!) در ولایت لغمان

یك شاهد عینی به دفتر هفته نامهء شریعت مراجعه کرده .. گفت: یك باشنده کوه(کوڼان) دربدل پول قرض خویش خانم شوهر داری را که مربوط قریه سنکر، ولسوالی علینگار ولایت لغمان میباشد در جریان ایام عید اضحی یرغمال نموده و تاحال زن بیچاره و مظلوم در قبضهء افراد قوم شاړ باشنده کوه متذکره قرار دارد.

شاهد عینی افزود: در یك واقعهء اسفناك دیگر پیش از ایام عید، قدوس نام قوماندان حزب اسلامی مربوط قریه روغانی، ولسوالی علینگار دختر جوان خود را که مادرش موجود نبود به تحریك خانم جدید که در قید نکاح خویش در آورده بود به گفته شاهد عینی زیر لت و کوب بقتل رسانید.

تا حال دعواگران تنفیذ شریعت در ولایت لغمان هیچ نوع اقدام عملی، شرعی در این مورد نکرده اند اینست عدالت دعواگران جهاد و نظام اسلامی در کشور ■

یوه نسخه د قرآن کریم په بی عزتی مسخه او په خره بدله شوه!

مشرق: ۲٤ می:

د اکاری په سیمه کی د بصیر پور په شاوخوا، رکن پوره کلی کی یوی بدمرغه ښځی قرآن کریم د اور په لمبو کی وغورزاوه چی لوی خدای (جل جلاله) سمدستی د هغی ښځی وجود مسخ کړ او په دی توگه د نورو د پاره بی عبرت او پند وگرزوله، په تفصیل کی ویل کیږی چی د بصیر پور په اطرافی کلی رکن پوره کی یوی نږدیه کور کی د قرآن کریم تلاوت کاوه چی خوابنی یی ورته وویل: «جگه شه ډوډی پخه کړه تنور گرم دی». دایی وویل او دباندی ولاړه، لږه شیبه وروسته بیرته راغله گوری چی (٤ مخ)

د غور ولایت د تیوری ولسوالی تصفیه شوه

د مقابل لوری ٦۰۰ میله سپکه او ۲۰۰ میله درنده وسله د طالبانو ځواکونو ته په لاس ورغله.

اوس په دی ولسوالی کی بالکل امنیت دی.

له غور ولایت څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دغه ولایت د تیوری ولسوالی دکابل د اداری له ملیشی څخه آزاده شوه. خبریال زیاتوی په دی جگړه کی چی دوه ساعته روانه وه دکابل د اداری مزدورو ملیشه یانو ته د سر او مال درونډ تاوان ورسید، له هغوی څخه اته تنه مړه (٤ مخ)

اجتماع بزرگ اتحاف ادعیه به روح شهید اسلام (غوث الدین لایق) برگزار گردید

علماء، طلباء با امیرالمؤمنین محمد عمر(مجاهد) رسم بیعت را به جا آوردند.

خبرنگار ما از ضلع (صوات) صوبه سرحد پاکستان خبر میدهد که:
اجتماع بزرگی اتحاف ادعیه به روح شهید اسلام طالب العلم (غوث الدین لائق) به اشتراك علماء، طلبه و قوماندانان نظامی جبهات حق علیه باطل تحریك اسلامی طالبان، ولایت بغلان، صفحات شمال و سایر ولایات کشور برگزار گردید ص٤

دخوست والی محترم مولوی سید عبدالله د شریعت له اوونیزی سره په مرکه کی:

دکابل اداره له هغو افرادو څخه جوړه ده چی ملت شړلی دی.

موږ کوښښ کووچی دخوست هوایی ډگر د الوتنو لپاره فعال کړو.

زموږ بهرنی دښمنان کوښښ کوی چی افغانان ددی توان پیدانه کړی چی په یوه اتحاد ژوند وکړی.

دخوست والی محترم مولوی سیدعبدالله چی په حاجی آغا مشهور دی د جهاد په اوږده موده کی دیوه وتلی او مشهور مجاهد په توگه د دین او وطن د دښمنانو په مقابل کی جنگیدلی او دحرکت انقلاب اسلامی د تنظیم د تکړه قوماندان لالا ملنگ سره په یوه سنگر کی اوسیدلی دی، چه بیا وروسته د حزب اسلامی خالص له تکړه قوماندانانو څخه و حاجی آغا دهغو علماو کرامو له جملی څخه دی چی په وطن کی د ظلم او فساد ناخوالو سخت متأثر کړی او ددغه حالت مقابلی ته یی هڅولی دی، زموږ خبریال ورسره مرکه کړی ده چی د درنو لوستونکو مطالعی ته یی وړاندی کوو.

د خوست والی محترم سیدعبدالله د شریعت د خبریال دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل: کله چی د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت د ځوارلس کلن جهاد ٤مخ

چهل تن دریور در یك سرای واقع پل محمود خان (مرکز کابل) مورد جور و چپاول قرار گرفتند

به اساس خبر منتشره روزنامه وحدت چاپ پشاور، پاکستان چهل تن از دریوران فلاینگ کوچ لین کابل- جلال آباد و پشاور شبانگاه ساعت ۱۲ بجه در سرای کردیوال واقع پل محمود خان (مرکز کابل) ٤مخ

رژیم کابل اخیراً مقدار کافی اسلحهء کیمیاوی بدست آورده است

(سید خلیل الله هاشمیان)

محترم داکتر سید خلیل الله هاشمیان ضمن مکتوب عنوانی نماینده گی تحریك اسلامی طالبان صوبه سرحد (پشاور) اوراق که حاوی معلومات خوب سیاسی و اجتماعی میباشد فرستاده اند که ما با تشکر از آنها مطلبی از آنرا که به ارتباط دست یافتن اداره کابل به اسلحه کیمیاوی میباشد غرض توجه هم وطنان عزیز خویش بنشر میسپاریم.
رژیم کابل اخیراً مقدار کافی ٤مخ

محترم محمود مستیری په مات زړه استعفی ورکړه او داسی یی وانگیرله چی:

د افغانستان مسئله یوی داسی جړی مشوری ته ورته ده چی پرانستل یی د هیڅا په وس پوره نه دی، د افغانستان مسئله یوه داسی پیچلی پړاو ته رسیدلی ده چی له هر چا څخه یی د حل لاره ورکه ده، د افغانستان مسئله په یوه زور او لوی سمندرکی هغسی ډوبی شوی بیړی ته ورته ده چی د سمندر په ژوره کنده کی پته او د شیډو په حال ٤مخ

اجتماع بزرگ در لیسهء سید غیاث الدین برگزار گردید

خبرنگار هفته نامهء شریعت از ولایت هرات خبر میدهد که:
در این اواخر اجتماع بزرگی در مقر لیسهء غیاث الدین در ولایت هرات به ارتباط بهبود بخشیدن به امر تعلیم و تربیه، آن ولایت برگزار گردیده بود، که در آن اجتماع بزرگ علاوه بر محترم الحاج ملابارمحمد والی هرات، محترم رئیس محکمه محترم مفتی عبدالحق، و محترم نجیب الله (حاکی) رئیس تعلیم و تربیه آن ولایت و ... ص ٤

دطالبانو اسلامی پاڅون یخپلو ټولو ترلاس لاندی ساحوکی اسلامی شریعت نافذ کړی دی ٤مخ

د پکتیا ولایت والی د ATC د ماین پاکولو یو پخوانی غلاشوی گاډی په گردیز کی ددغه موسسی ساحوی آمرته وروسپاره

دATC د مؤسسی دا دوهم موټر دی چی د طالبانو په ترلاس لاندی سیموکی موندل او دغی مؤسسی ته ورسپارل کیږی.

د ATC د ماین پاکولو د مؤسسی 2223 - X68 لمبر موټر چی د ۱۹۹٤ کال د جون د دوهمی نیټی په ماښام د گردیز ښار په شاوخوا کی د مسلحو نا پیژندل شوو کسانو له خوا تیول شوی و د پکتیا په ولایت کی د طالبانو د اسلامی قوتونو له خوا د ATC د ماین پاکولو د مؤسسی د دوهمی پروژی مشر - عبدالروف عظیمی- ته وسپارل شو. ٤مخ

شریعت

سرمقاله

د قاضی صاحب د هیلو لومړی پړاو

د پاکستان د جماعت اسلامی امیر قاضی حسین احمد صاحب د افغانستان په مجاهدینوکی په حکمتیار باندی ډیر خواخوږی او مهربان دی. حکمتیارهم د هر تعهد او انگیزی په بنسټ چی وی د قاضی صاحب او د ده دجماعت خبره په ځمکه نه غورزوی نو ځکه د مسعود په هکله د حکمتیار له سختی دښمنی او بی ساری واټن سره سره په یوه ځای ورسره کیناست له ربانی او سیاف نه پرته یی دوه ساعته خبری اتری ورسره وکړی بیایی ربانی، سیاف او قاضی صاحب ته د گډون اجازه ورکړه او په لوظنامه یی لاس لیك سره وکړ!

داچی په لوظنامه کی څه دی؟ په ښتونوکی څه دی؟ او دعمل په ډگر کی به څه کیږی؟ راتلونکی شپی ورځی به ئی ځواب و وایی، خو دومره وشول چی د قاضی صاحب د ډیرو هیلو او پټو نقشویو پړاو د حکمتیار او مسعود په لیدنه او تړون سره تر سره شو، ځکه: قاضی صاحب چی د حکمتیار تر اجتمالی او مطلوبه مشری لاندی له افغانستان نه چی څه جوړول غوښتل هغه هیله هغه وخت په اوبو لاهو شوه چی د نجیب له چپه کیدو سره سم د مسعود او حکمتیار په مقابله کی حکمتیار ماتی وخوړله نو ځکه یی هغه وخت حکمتیارته د مسعود او ربانی په ضد د جنگ د دوام قومانده ورکړه او د پاکستان له حکومت نه یی په لوړه پیمانه د اکمالاتو بهیر اوبی دریغه مالی کومکونه ورمات کړل او هم یی دسکولونو او کالجونو بی تجربی تنکی ځوانان د حکمتیار په سنگرونوکی خاوری کړل؛ مگر له هغو ټولو ورانو، ویجاړو او قتلونونه څه لاس ته نه ورغلل تر څو د طالبانو اسلامی تحریك چهار آسیاب ونیوله او حکمتیار لغمان ته راپه شاشو، دغه وخت د حکمتیار له پاره د سختی مایوسی او انزوا وختونه وو مگر له ده نه زیات قاضی صاحب او جماعت یی ډیر خپه وو چی حکمتیار څنگه اوولی دومره بی اعتباره شو چی هیڅوك هم حساب نه ورباندی کوی؟ نو ځکه یی متی رانغښتی، په مسعود او ربانی پسی شو او قانع یی کړل تر څو حکمتیار په خپل څنگ کی ومنی، حکمتیار هم د قاضی صاحب له خبری نه تیریدی نه شی مجبور شو چی د کلونو کلونو له دښمنی او ترخی سابقی سره سره د مسعود او ربانی څنگ ته یی زړه ورووړ، لوظنامه یی لاس لیك کړه او همغږی یاران یی پریښودل مگر له لوظنامی نه مخکښی یی د کرسیو دویش په سر څو هفتی مسلسله مناقشه ورسره وکړه تر څو یی ځان په ځینو کرسیو قانع وباله. (۲مخ)

د مسلمانی عقیده
دوهم مخ

اسلام او بین المللی اړیکی
دوهم مخ

خدمات دینی و اجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور
جنبش مشروطیت (ثانی) و آغاز انحراف
صفحه دوم

ویاړمن ملت او ویاړمن قیادت
دوهم مخ

د کربلا پیښه د مسلمان امت لپاره یو درس
(دریم مخ)

دَ و باشد پلو باشد
(دریم مخ)

د استبداد په ضد دی د حضرت سیدنا حسین رضی الله عنه پاڅون تل تر تله سر لوړی وی.

شریعت

دامتیاز خاوند : د افغانستان د طالبانو اسلامی تحریک
دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
د لیکوال هیئت تر کتنی لاندی
مسؤول مدیر : الحاج مولوی احمدجان
تیلفون : ۸٤۰۳۷۸
آدرس : په پېښور کښی دطالبانو داسلامی تحریک نمایندګی
دیوی ګڼی بیه : په هیواد کښی (۳۰۰) افغانۍ
په پاکستان کښی (۳) کلداری

سرمقاله ...

په دغه ترتیب سره د قاضی صاحب د پلان یو پړاو سرته ورسیده؛

له لوظنامی نه پس چی دوی د نورو د تفاهم، جنګ بندولو، او نورو طرفونو را بللو او...، خبری کوی دا ټولی هغه سیاسی مانوری دی چی د افغانستان مجاهد او مسلمان ولس ډیری اوریدلی دی او اوس پوره ورسره بلد شوی دی نو ځکه باورنه ورباندی کوی، دوی یوازی په هغه څه باور کولای شی چی د کرسیو د ویش له اوږدی او ټودی مناقشی نه پی فهمولی او زده کړی دی هغه دا دی چی د ربانی او حکمتیار د نوی ائتلاف اداره باید دوام وکړی اوله هغی نه د دفاع په لاره کی که هر څومره نورهم د افغانستان مسلمانان تباه شی دوی پی پروا نه لری او کیدای شی چی قاضی صاحب داخبره په حکمتیار او ربانی باندی ښه پخه کړی وی؛

له دغی لوظنامی او تړون څخه د مسلمانانو دغه برداشت دی او دغسی الهام ورنه اخلی ځکه؛ که چیری دعبوری اداری خبره رښتیا وای نو بیا خو دعبوری او موقتو کرسیو په سر څوک هیڅ سرنه خوږوی بلکی ورنه تښتی داله دی امله چی د کرسی میښان دافکر کوی چی موقته کرسی د انسان پرستیږ خرابوی او لیاقت یی بی اعتباره کوی نو ځکه حکمتیار د ربانی د اداری په پیل کی د صدارت عظمی له کرسی نه چهار آسیاب ته ترجیح ورکړه او استاد فرید یی ورواستاوه؛

بل له دی امله د عبوری اداری خبره څوک نه منی چی یو ځل د تړون له مخی د دوو طرفونو تر منځ یوه اداره جوړه شی او د اداری ټول واک او صلاحیت د دوو جهتونو ترمنځ وویشل شی نو بیا د نورو تنظیمونو رابلل هیڅ معنی نه لری ځکه هغوی چی ځانونه جهادی قوتونه ګڼی او دغسی دوه کسی اداره خپل کورنه بولی نو په ګډون کی یی د خپلو قوتونو لپاره اهانت او سپکه محسوسوی؛ په دی خبره حکمتیار او ربانی تر بل هر چا ښه پوهیږی او لا په خوا به یی د داسی غیر عملی دعوت عدم اجابت سنجولی وی؛

بل له دی امله د عبوری اداری خبره دروغ ده چی له تړون سره سملاسی یی د طالبانو په مرکزونو باندی په ګډه سره تعرض او بلوسه پیل کړه چی دغه د نوی ائتلافی اداری د بدونیتونو ترټولو لوی ثبوت دی.

د طالبانو اسلامی تحریک چی د جهاد د مقدسو هدفونو د ژغورلو او د خپل مسلمان مجاهد ملت د سر، مال او ناموس د ساتنی په نیت راپورته شوی دی دابی هوډ کړی دی چی د داسی پوچو اوازو او غرضی ائتلافونو په رامنځ ته کیدو به د اسلام او مسلمان ملت له ژغورنده ملګرتیا څخه لاس وانخلی او تر څو پوری محسوسه نه کړی چی دغه اداره په هغه لاره مخه وکړی چی د خپل مسلمان او مجاهد ملت د تأیید وړ وی خپلی مبارزی ته به دوام ورکړی تر څو د الله تعالی په فضل او مرسته د افغانستان په مرکز او ټولو ولایتونو کی اسلامی شریعت نافذ او عام امن راشی - انشاء الله تعالی ■

د مسلمانی عقیده

نولسمه برخه

غازی خیل

دفقهي تاریخ او څلور مذهبونه

څلورم دور:

څلورم دور د دوهمی هجری سدی له پیل نه د څلورمی هجری سدی ترنیمایی پوری د سنت او فقهی دور دی، دومره لوی لوی مجتهدین پکی راڅرګند شول چی د اسلامی امت اکثریت په امامت سرو ومنل.

دسیاسی حالاتو لنډیز:

د بنی امیه وو د خلافت په وروستیو کلونو-۱۲۷هـ- کی هغه پټه بلنه (سری دعوت) بریالی شو چی په عراق کی د بکیر بن ماهان او په خراسان کی د ابومسلم خراسانی په هلو ځلو له ډیرو کلونو راهیسی چلیده او د اهل بیتو په نوم یی بلنه کوله په دغه کال په کوفه کی د عباسیانو لومړی خلیفه- ابوالعباس عبدالله بن محمد بن علی بن عبدالله بن عباس(رض) . ځان له پاره بیعت واخیست او د بنی امیه وو وروستنی خلیفه - مروان بن محمد بن مروان- د عبدالملک بن مروان وراره د ابوالعباس د لښکرو له خوا د مصر د صعید په بوصیر کلی کی ووژل شو.

د بنی امیه وو په څوکم سل کاله حکومت کښی د خوارجو او شیعه وو ډیر پاڅونونه وځپل شول، ډیر ملکونه فتح او له اسلام تمکت سره یوځای کړای شول، عباسی خلفاوو ته دومره لوی اسلامی مملکت په میراث پاته شو چی نږدی ټوله آسیا، افریقا او ډیره اروپا پکی شامله وه؛

عباسی خلفاوو د خپل اقتدار په وخت کی له اموی کورنی سره داسی ترخه کړه وړه ترسره کړل چی په تاریخ کی یی ساری نشته، په ولو، ولوبی ووژل، ان تردی چی د خپلو پلویانو (فارسیانو) د خوشحالولو لپاره د مړو قبرونه یی هم پسی وسپړل؛ ددغو سختیو له امله داموی کورنی یو لوی مشر- عبدالرحمن بن معاویه بن هشام بن عبدالملک اندلس ته وتښتیده او هلته یی د ځانګړی لوی اموی خلافت بنسټ کیښود او د اسلامی لوی مملکت یوه برخه یی په لومړی ځل ورنه غوڅه کړه؛

د حضرت علی (رض) اولاد له بل هر چانه ځانونه د خلافت حقدار ګڼل ځکه یې د اموی خلافت او بیا د عباسی خلافت په وخت کی د شیعه وو په کومک ډیر ناکامه پاڅونونه وکړل او په سختی سره وځپل شول په دوی کی ادریس بن عبدالله بن حسن بن زید بن حسن(رض) بن علی(رض) د المغرب خواته وتښتیده او هلته یی د ادریسی خلافت بنسټ کیښود، دغه دوګه ټوټه وه چی له اسلامی لوی مملکت نه غوڅه کړای شوه؛

دهغه خلافت د مقابلی لپاره هارون الرشید په افریقا کی دا غالبه وو د دولت بنسټ کیښود او مامون الرشید په خراسان کی د طاهریانو د امارت او په یمن کی د زیادیانو دامارت بنسټ ددی لپاره کیښود چی د شیعه وو مقابله ورباندی وکړای شی.

امامیه شیعه د جعفرصادق رحمة الله علیه په ژوندکی په ده باندی راغونډ وو اودی یی شپږم امام ؤ مګر ده د ځان لپاره خلافت ونه غوښت، له ده وروسته ځینی دده په زوی موسی کاظم رحمة الله علیه باندی را غونډ شول او امامت یی دده په اولادکی تر دولسم امام پوری بالله ځکه دوی ته موسوی او اثنا عشریه ویل کیږی. د دولسم امام چی دوی اوس هم دهغه دراوتلو په انتظار دی- ابوالقاسم محمد العسکری بن الحسن العسکری بن علی الهادی بن محمد الجواد بن علی الرضا بن موسی الکاظم بن جعفر الصادق بن محمد الباقر علی زین العابدین الحسین بن علی رضی الله تعالی عنهم- دی؛ (نور بیا)

ویاړمن ملت او ویاړمن قیادت

شاجهان سرداری

ډیروختونه په یوه ولس کی فرصت طلبان قیادتونو ته په کمین کی وی، د مصیبتونو په وخت کی د ولس له ستونزو څخه په ډول ډول پلمو ځانونه ګوښه کوی، خو د ګټو او بهره برداری په وختونوکی له ټولو لومړی میدان ته راځغلی.

دا ډول افراد ډیر کله پخپلو چالاکیو او معامله ګریو سره د ولس ټولی بوټی په خپلو خیټو کی اچوی.

د ملی قیادت، عام زعامت او ولس مشری دعوی ددی ډول افرادو ستره ځانګیرنه ده.

د قوم په نامه تجارت هم ددی ډول کسانو لوی محنت دی.

دا نوع افراد ډیر مکار، چالاکه او دوکه کوونکی وی. د ولس د مشری دعوی کوی او پدی نامه دومره څه ترګوتو کوی چه مثالونه ئی د ټولو په وړاندی ښکاره دی.

دکله نه چه په افغانستان کی د جهاد او هجرت لړی پیل شوی نو دچالاکو او معامله ګرو کارو بارته زمینه مساعده شوه، هغوی چه د ولس یوځیوته ئی دامونه اېښودلی وو او دهمدی ورځی په انتظار وو، نو د موقع څخه په استفادی سره ئی یو وار چیغی پورته کړی د خپلو خبرو او بیانیو پیلیږه به ئی داسی ټکو جوړوله چه زما ولس، زما ملت، زماقوم، زما هیواد، قومی تنظیمونه، مؤثر قوتونه او ... دا هر څه به ئی ځانته منسوبول او پدی توګه به ئی د ولس په نامه ډیری ګټی ولی تر لاسه کولی.

زمونږ د جهاد په اوږده موده کی چه وطن او ملت دواړه د بی شمیره کړاونو سره لاس او ګریوان وو او وطن د اور په لمبو کی سوزیده، خو فرصت طلبو معامله ګرو به په ډول ډول پلمو د ستونزوله زغملو ځانونه ګوښه کول او دکړاونو په لړ کی به ئی د ملت او ولس څخه لریوالی اختیارا وه.

خو کله چه به ګټو او څه لاسته راوړلو وخت و نو بیابه له هر چانه مخکی میدان ته راغورځیدل.

د ولس په نامه دغو افرادو ډیر څه پخپلو خیټو کی ځای پر ځای کړل، مګر ولس ته یی هیڅ قسمه ښیګڼی ونه رسیدی برعکس همدغه ولس چه ددی ډول اشخاصو د سوداګری لوی تجارتی مارکیټ ګرځول شوی و او دوی پری ډیر څه ګټلی و، همغه ولس د دوی د برغلونو لاندی راغی، هغه ئی ولوټه، وئی ټکاوه، وئی ځوراوه، په انسانی کرامت او بشری حقوقو ئی ورله لوبی وکړی، په دنیا کی ئی سپک سپاند کړ، په پوهوری ئی مشهور کړ، په نړیواله ټولنه کی ئی دبو داړونکی وحشی په توګه معرفی کړ، نړیوالو ته ئی دبو وژونکی بی فرهنګه توپکی په توګه وروښود او دومره ذلت ئی ورپه برخه کړ چه دبشری تاریخ، دهیڅ پرګنی په برخه نه و.

که څه هم چه دا ولس ویاړمن و، پتمن و، دعزت، ابرو او سربښندنو څښتن و، تاریخی کارنامی ئی لرلی، خوله بده مرغه چه د معامله ګرو د رسوائی قربانی شو.

د ډیر افسوس ځای خو دادی چه داسی یو ویاړمن قوم چه تاریخ ئی په اتلولیو ولک دی خو نن ورځ د څو سوداګرو د ناوړه اعمالو پخاطر ټولی دنیا ته ښیټ سری دی.

معامله ګر چالاکان چه په دوکه کولو او تیرایستلو کی خاص مهارت لری لاترننه زمونږ د زعامت خوبونه وینی او په محفلونو کی زمونږ د اتل قوم د مشری او قیادت دعواګانی کوی.

هغوی د ولس پر حقیقی زعیمانو پوری خنداوی کوی، په هغوی پوری له دی امله ملندی وهی چه هغوی خو د ولس په مصیبتونوکی محبوب شوی دی او د روسانو په ضد ئی د جهاد په تودوسنګرونو کی دخپلو بدنونو اعضاوی له لاسه ورکړی دی، موږ خو داخپل افتخار ګڼو، پدی ویاړ و چه زمونږ زعامت دی دهیواد د هغو اتلانو په برخه وی چه زمونږ د عقیدوی او ملی ارزښتونو په لارکی ئی خپلی پښی، خپل لاسونه، خپلی سترګی او خپل نور اندامونه نذرانه کړی وی.

همدغه ډول کسان د ملت رښتونی اتلان دی، د وطن رښتونی قهرمانان دی. همدوی د ملی زعامت حق لری او همدوی د ولس د مشری مستحق دی. د ولس د قیادت حق هغه چاته حاصل دی چه ولس ورته په ورین تندی خپله غیږه پرانیزی، راتلوته ئی مباشتی مباشتی انتظارونه وباسی، او لیدوته ئی ورله سترګی تیغی تیرولی وی.

همدا ولسیت او په قوم کی د رسوخیت معیار دی. څوک چه خپل ولس ته د تائید وړ وی او خپل ملت ئی ملاتړ کوی هغه هیڅکله هم په قوم بوج نه وی، ولس ئی پرځان خدائی عذاب نه بولی، په حق کی ئی شپه او ورځ د تابودی دوعاګانی نه کوی، له خیرونی قوم پناه نه غواړی بلکه په پراخه تنده دهغه هر کلی کوی او د زړونو له کومی ورته ښه راغلاست وائی.

ویاړمن قومونه د خپل قیادت لپاره هغه څوک غوره کوی چه هغوی خپل ولس ته ویاړونه ورپه برخه کړی، د خپل ملت د سرلوړی سبب ګرځیدلی، خپل ځانونه ئی لومړی له اسلام نه او بیا له ملی ارزښتونو څخه قربانی کړی وی، ملک ته ئی اتلولی راوړی وی، تاریخی سربښندنی ولری، او د همداسی افرادو قیادت ولس ته ویاړ دی ولس پری نازیږی، ولس ئی د خپل عزت بیلګه ګڼی. مګر هغه څوک چه د هر ډول ویاړمن ملی ابتکار څخه محروم وی، تل ئی په سختیو کی ملت یوازی پریښی وی، دملت ټولی بوټی ئی د خپل نفس له غوښتنو قربانی کړی وی، ملی ویاړونه ئی په ملی شرمونو بدل کړی وی، دپښتمن ولس تاریخ ئی د پوهوری او وحشی ولس په تاریخ اړولی وی، د قوم په مذهبی او ملی عنعناتو ئی سوداګری کړی وی، د ملت د عزت په حساب ئی معامله ګری کړی وی، هغوی هیڅکله هم د خپل ولس د قیادت وړ نه ګرځی.

ویاړمن قومونه ویاړمن قیادتونه خوښوی، خپلواکی او پخپله اراده د خپلو چارو سمول د ملت ویاړ بلل کیږی، څوک چه دپردیو په غیږوکی لویبدلی وی، د پردیو په مخکی ئی ځاپوړی کړی وی، دپردیو په جوټو لوی شوی وی، ښه او ترخه ټول ئی دنورو په اشارو اولارښوونو وی، تاسته اوملاسته ئی د بیګانه ګانو په اوامروی، د سولو او جنګونو پلانونه ئی نور ترتیبوی، تګلاری او مسیرونه ئی نورټاکی، دهر ډول ذاتی ابتکار څخه بی برخی وی، هغوی هیڅکله هم د خپل ولس ملاتړ نشی حاصلولی او ددی حق هم نه لری چه د ولس د مشری او زعامت دعوه وکړی.

زمونږ ولس ځکه د طالبانو اسلامی غورځنګ د خپلی مشری وړ بولی چه ددی غورځنګ ټول بنسټ ایښودونکی لکه د خپل غیرتی ولس پشان د غیرت ډک تاریخ لری.

دروسانو په ضد زمونږ د ملت نه ستړی کیدونکی وسله والی هلی ځلی هغه څه دی چه زمونږ ملت ته ئی د نړی د قهرمانی امتیاز ورپه برخه کړ، او د طالبانو د اسلامی غورځنګ مخکښان د همدغه مسلح جهاد هغه معیوبین دی چه ډیروئی د خپلو وجودونو خوږی اعضاوی شهادت ته وربخښلی دی، او همدائی د ویاړښه ده، او د ویاړمن قوم قیادت خو یوازی د ویاړمنو حق دی.

تجانس د قیادت لومړی شرط دی، د مجاهد قیادت به مجاهد کوی، او مجاهد هغه څوک دی چه په تاوده جهادی سنګر کی لویبدلی وی، په حیات آباد، اسلام آباد، لندن او پاریس کی ئی لور غچی نوی کړی.

د طالبانو داسلامی غورځنګ مشرتابه د ویاړمنی لپاره همدا بس ده چه هغه د سنګرونو پیدا وار دی، د شجاعت زیږنده ده، او د سربښندنو انتاج دی. تل دی وی همدا ویاړمن ملت او بریالی دی وی همدا ویاړمن زعامت ■

خدمات دینی واجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

مشروطیت (ثانی) وآغاز انحراف

قسمت پنجم

قلم، جوادی

در بحث گذشته گفتیم که صلیبیها به شیوه جنگ و رویاروی خود با مسلمین تغییر داده (به جنگ و مقابله نظریاتی و مفکوروی) پرداختند که به جریان آن اشاره ئی شد.

غرض وضوح و درک خوبتر مقصود مراحل را که کشمکش این تغییر و تحول پشت سر گذاشت به آن اشاره مینمایم که آن به: سه قسمت و مرحله تقسیم شده میتواند.

مرحله، اول: رویارویی میان غرب و شرق در میدان جنگ و قتال که البته این مرحله بنفع اسلام و مسلمین تمام شد.

مرحله، دوم: کشمکش میان غرب و شرق اسلامی در میدان (اندیشه و دین).

در این مرحله غرب طرق و اسالیب بسیاری را بکار بست تا اگر بتواند مسلمانانرا به مرگ تدریجی مواجه کرده آهسته آهسته به زندگی شان خاتمه بدهد.

در این مرحله غرب تلاش میکرد تا مفکوره و دماغ مسلمانها را شستشو نموده و آنها را از تعلیمات اسلام به آرامی دور ساخته بی دین شان بگرداند.

این برنامه طوری طرح ریزی گردید که عملیه، بی دین ساختن شان بدون سروصدا و با هرج و مرج جامه تطبیق بپوشد، روی همین هدف نا مقدس غرب در صدد شد افراد و گروههای به خصوصی را تحت تربیه و پرورش قرار داده و توسط آنها مرام خود را در سرزمین های اسلامی بدست آرند و خود شان از رویاروی مستقیم با مسلمین بپرهیزند.

وظیفه و اهداف این مرحله را به گفته (گب) مستشرق برتانوی در این جملات میتوان خلاصه کرد:

(آموزش و پرورش یگانه طریقه و وسیله است که میتوان بواسطه آن کشور های اسلامی را غربی گردانید).

و عقیده لورد میکالی رئیس کمیته تعلیمی در هند هدف و وظیفه این مرحله را نیز مشخص ساخته میتواند که میگوید: (ایجاب میکند گروهی را ایجاد کنیم که ممثل، ترجمان و زبان گویا میان ما و ملیونها افراد رعیت ما باشند، اما این گروه از لحاظ رنگ و خون هندی و از نظر ذوق، نظر، زبان و اندیشه انگلیس خواهند بود). بلی! چنین است امروز حال اکثر زعامتها و مسؤلین امور در ممالک اسلامی که به جز اسم و رسم اسلام هیچ نوع تعلق عملی دیگری با اسلام نداشته هر آنچه کفار غربی و شرقی گویند و کنند، اوشان هم آن کنند و آن گویند و سرموئی از آن خلاف نورزند.

اهتمام غرب در این مرحله بسیار عمیق و چشمگیر بود تا جایکه طبقه، تعلیم یافته مسلمان اکثراً بر اساس غربگرائی از دین و شرقی بودن خود برای همیش بریدند و به عقیده و اندیشه، (دین بر آنها نمیتواند حکومت کند) چنگ زدند.

و از این طریق و اختیار کردن این شیوه میتوان چنین اشخاص را از دین و سرزمینشان جدا کرد و سپس زعامت و رهبری کشور های شانرا برایشان سپرد، همین است مفکوره و شیوه، استعمار.

مرحله، سوم: مرحله استقلال ملی: در این مرحله روی کار شدن نظامهای محلی، خاصتاً عسکری و کودتای شکل میگیرد البته بعد از آنکه غربیهای صلیبی به طرق و اسالیب مختلف به خصوص تعلیم و تربیه عملیه، مغز شوئی و بریدن رابطه ابناء شرق اسلامی را از اسلام و شرقی بودنشان به کامیابی انجام دادند به جای آن مفکوره و اندیشه، ملی گرائی، تعصبات قومی، لسانی و جغرافیائی را جایگزین ساختند تا به اساس آن امت واحد اسلامی را به تفریقها و تذبذبهای گوناگون مواجه ساخته بدست همان افراد تربیه شده و وابسته، خود حکومتها و نظامهای محلی را روی کار نمودند.

این مرحله به نفع و مصلحت دشمن بسیار کارگر و مؤثر قرار گرفت و تمدن غرب وآنهم مظاهر فاسد اخلاقی و ضد دینی آن بر مردم مشرق زمین به زور و نیروی عسکری قبولانده شد و نام آنرا وطن خواهی، ترقی و ملت پرستی گذاشتند. به جز از زور و فشار نیروی عسکری قبولاندن مظاهر فاسد و الحادی تمدن غربی بر ملتهای اسلامی به هیچ شکل آن عملی نبود زیرا احاد ملت اسلامی جزبه، دینی و وابستگی مذهبی خود را حفظ کرده بودند تنها افراد و گروهای محدود را اوشان مغز شوئی نموده و به زعامتهای کشورهای شان رسانده بودند که آنها به جز از سردادن شعار های فریب دهنده، جاهلی و اعمال نیروی عسکری چاره، دیگری برای بقاء و دوام خود نداشتند.

طوریکه گفتیم این نظامها آواز ملیت خواهی را بلند کردند و این آواز به مردم خویش احساس و شعور ملی داد و زیر پوشش همین شعارها و آواز های گوش خراش بود که فرزندان عزیزده که از طریق خدعه و مانور های عجیب و غریب داخلی و خارجی بقدرت رسیده بودند، علیه وطن داران متدین و اصیل خود چوبهای اعدام نصب کردند و مبادی و قیم انسانی و اخلاقی را پایمال نمودند، علماء، روحانیون و مشائخ، دانشمندان و مخلصان را بدبار نیستی و نابودی فرستادند، وحشت و ناروایکه غرب به خصوص استعمار انگلیس و فرانسه بسر مسلمانان در عصر و زمان خود آوردند به مراتب کوچکتر و کمتر از آن بود که این حکام خیره سر محلی، انگلیسهای کند مین آنرا در حق هم وطنان خویش اعمال کردند. و به این صورت توطئه، خطرناک و مهیب (جنگ عقیده و مفکوره) که قرنها قبل علیه اسلام و مسلمین از جانب دشمنان صلیبی اسلام پیش بینی شده بود متأسفانه بدست همان فروخته شده گان تربیه دیده استعمار به زور برچه به نتیجه رسید. و همچون شکستهای شدید که قرنهای متوالی در میدان جنگ گرم از دست مسلمین خورده بودند مسلمین را در میدان جنگ (مفکوره و نظریه) مواجه ساختند و حاکمیت اسلام را از برنامه زنده گی مسلمانها چیدند.

در این نبرد و تقابل به این چند نکات آتی توجه خاص باید کرد که استعمار صلیبی بالای آن ترکیز و توجه زیادی و اساسی داشتند:

"...: مرکز ثقل و نقطه، مرکزی در این جنگ (عقیده و مفکوره) را زدودن جذبه، دینی و اخوت اسلامی از اعماق وجدان مسلمان ها و به جای آن جایگزین ساختن جذبه و روحیه، ملی گرائی و سایر شعارهای جاهلی تشکیل میداد. که با روحیه و عقیده (حکومت جهانی اسلام) که متکی بر (توحید و رسالت) میباشد ضدیت داشته ابداً راه سازش و آشتی را باهم یافته و یافته نمیتوانست.

ب: لبه، تیز این توطئه، جهانی (صلیب) علیه اسلام و مسلمین در قرون معاصر از همه اولتر متوجه انقراض خلافت (عثمانی ترکیه) بود که تحت چتر (عقیده اسلامی) از ترک، عرب، کرد و غیره تشکیل گردیده بود و یگانه سمبول وحدت سیاسی مسلمانها در عصر معاصر و مانع اصلی تحرکات غرب صلیبی در دنیا، اسلام پنداشته میشد.

ج: عقب این توطئه ها که علیه اسلام و خلافت عثمانی در دست کار بود، به خصوص در تأسیس و رشد مفکوره، ملی گرائی و ... چه در جهان غرب و چه در نفس خلافت (ترکیه) دست درازی از جمعیتهای مسیحی، یهودی و ماسونی قرار داشت، زیرا یهود برای رسیدن به فلسطین و تشکیل حکومت یهود در آنجا خلافت عثمانی را مانع بزرگ و عملی در راه خود میدید به خصوص عبدالحمید (ثانی) را که یهود از طرق مختلف کوشید که به قناعت آن دست یابد که نتوانست.

رژیمها و شخصیتهایکه در تاریخ معاصر جهان اسلام از همه بیشتر و فعال تر به حیث ممثلین و داعیین تمدن غرب و نظریات الحادی آن در کشور های اسلامی ر اذهان فرزندان مسلمان آن کشورها قرار گرفتند و داعیه، ملی گرائی و غربی شدن را حمایه کردند میتوان از جمله آنها از اتاترک در ترکیه، از خانواده (حاکم) محمد علی پاشا در مصر از امان الله خان در افغانستان از بورقیبه در تونس و جمال عبدالناصر در مصر و... یاد آور شد.

از شخصیتهایکه پیش قرولان داعیه مظاهر الحادی تمدن غرب در کشور های خود بودند و میتوان اوشانرا اولین تئوریسنهای (نظریات نیشنلستی) در آن کشور ها دانست. از رفاعه طهطاوی در مصر نام برد که موصوف در غربی گردانیدن کشور مصر نقش اساسی را بازی کرد و با زوی راست محمد علی پاشا (حاکم مصر) محسوب میگردید و معاصرش خیرالدین (اتونیسی) و امثالشان که نخستین فرستاده گان و ممثلین تمدن غرب در جهان عرب و پرچم دا ران منهدم گردانیدن بناء و اساس اسلام در اذهان و مفکوره، فرزندان مسلمان بودند.

ص ۳

اسلام او بین المللی اړیکی

مولوی عبدالحکیم «مجاهد»

لکه څنګه چی وګړی په خپل ټولنیز ژوندکی د ژوندانه په مختلفو اړخونوکی یو بل ته اړ دی او د خپلو اړتیاوو د پوره کولو د پاره له یو بل سره په اړیکو لرلو باندی په طبیعی توګه مجبوریږی، همداراز ټولنی او دولتونه په بین المللی ساحه کی د خپلو اړتیاو د پوره کولو، اوله یوبل سره په سولیز چاپیریال کی دژوند کولو د پاره په اړیکو لرلو باندی مجبوریږی. دولت له وګړو څخه جوړیږی او بین المللی ټولنه له دولتونو څخه جوړه شوی ده. لکه څنګه چی د افرادو تر منځ د اړیکو نوعیت مختلف وی همدا راز د ټولنو او دولتونو تر منځ د اړیکو نوعیت هم وړ وړ انګیزی او عوامل لری. لکه نظامی، سیاسی، اقتصادی، عقیدوی، تعلیمی، کلتوری او داسی نوری.

د انسانی نړی د خپل اوږده کلن ثبت شوی تاریخ په اوږدوکی، ټولنی او دولتونه په خپل منځ کی د بین المللی اړیکو رسمی یا غیر رسمی، دولتی یا غیر دولتی علمی یا غیر علمی زیاتی کیسی او داستانونه لری چی د ملتونو په عروج او زوال کی یی مهم رول لوبولی دی. یوه دولت بل دولت ته خپل استاذی لیږلی دی. او دهغوی نمایندګان یی په خپل هیوادکی منلی دی، د یوبل سیمونه یی د جاسوسانو او اطلاعاتو شبکی استولی دی، او د خپل منځی ستونځو او اختلافونو د حل دپاره یی خبری اتری کړی دی، اقتصادی سیاسی او کلتوری اړیکی یی جوړی کړی دی، چی د انسانی ټولنی د اجتماعی طبیعت ښکارندوی دی.

په اوسنی نړی کی چی د ساینس حیرانونکیو اختراعاتو: راډیو، تیلیفون، تیلویژن، مصنوعی سپوږمیو او الوتکو نړیوال دیوه ښار او کورنی په اوسیدونکو په شانی سره نږدی کړی دی، د بین المللی اړیکو اهمیت او ضرورت یی نورهم زیات کړی دی؛ اوس دولتی نمایندګان او استاذی، د ګرځنده او موقتی ماموریت په ځای په مستقله توګه د سفیر، تنصل او نور داسی نومونو او ټایټلونو (Titles) تر عنوان لاندی په کوربه هیوادوکی پاتی کیږی او هلته یی هرکلی کیږی. چی د لیږونکی او کوربه هیوادونو تر منځ دهرډول دوستانه اړیکو د ټینګولو دپاره کارکوی؛ نظامی، اقتصادی، کلتوری، فرهنګی، فنی او داسی نوری معاهدی بحث کوی او د خپلو هیوادونو په ګټه یی د لاسلیک او عمل مرحلی ته رسوی.

یو هیواد له بل هیواد سره مرسته کوی، د شاګردانو، استاذانو او فنی ماهرینو تبادله کوی، یوبل ته پوروڼه ورکوی، پانګه اچونه کوی، په نړیوالو کانفرانسونوکی ګډون کوی او هم د دا ډول غونډو او مجلسونو تدویر دپاره په خپل هیواد کی د ضرورت په وخت کی انتظامات نیسی. په دی توګه د معاصری نړی په زرګونو پیچیده او مشکل سیاسی، اقتصادی، کلتوری او نظامی مسائل د بین المللی سو اړیکو په لرلو سره حل کیږی او بین المللی ټولنه د امن، سولی او سوکالی په نعمت سره غاړه په غاړه کیږی.

خو دتل دپاره د انسانی مدنی طبیعت د سالمی غوښتنی برعکس د ځواکمنو ټولنو او هیوادونو د جهالت، ځان غوښتنی او استعماری تمایلاتو په اساس د ملت پالنی(Nationalism) (ملی لوروالی او غرور) له کبله دورو ټولنو او هیوادونو ژوند له خطر سره مخامخ کیږی او بین المللی اړیکی متأثره کیږی، او نړیوال دوستانه چاپیریال د جګړو او نفرتونو په محیط باندی بدلیږی. د زورور خبره اوریدله کیږی، د کمزوری فریاد څوک نه اروی، په بین المللی اړیکو باندی د حق د قانون او منطق په ځای زور او طاقت حکمرانی کوی. او دجهالت د مشهور متل له مخی چی وایی. (Might is right) (قدرت حق دی) واکداری د زورور وشی. معاصره نړی د دا ډول بین المللی اړیکو ښکاره نمونه ده. بهایه، زورور او صنعتی هیوادونه چی په سرکی یی امریکا ده په بین المللی ټولنه باندی مسلط دی او د خپلی خوښی واکداری ورباندی کوی او دنورو په مقابل کی ځانونته دویټو (Veto) فرعونی حق ورکوی چی دهغه له کبله د دوی د استعماری او تیری کوونکیو اعمالو په خلاف لږ تر لږه د ملګرو ملتونو په شورا کانوکی د غندلو او محکومولو یوه پریکړه او فیصله (Resolution) هم نشی منظوریدلای، د اسرائیلو غیر قانونی دولت او په مظلومو عربانو باندی د هغو ناروا تیری او غیر انسانی ظلمونه خونړیوالوته د لمر په شانی ښکاره دی چی د امریکا د ویټو پاور (Veto Power) له کبله د هغو په خلاف هر ډول اقدام بی معنی ثابت شوی دی. همدا راز د افغانستان، بوزنیا، چیچنیا، کشمیر، عراق او الجزائر په

۳ مخ

د کربلا پېښه د مسلمان امت لپاره یو درس

څه نا څه څوارلس سوه کاله دمخه په همدی شپو ورځو کی د کربلا سوزوونکی دښته دیوه ستر ازموېښت شاهده وه، څه نا څه څوارلس سوه کاله دمخه همدغه شپی ورځی وی چی د کربلا په سوزوونکی دښته کی د حق او باطل د بېلولو په غرض یو کم شمېره ټولګی چی عزم او اراده یې پولادی وه د ظلم او فساد دبی شمېره لښکر په وړاندی خپلی سینی ډال کړی وی او څه ناڅه څوارلس سوه کاله وړاندی د خدای(ج) د نازولی پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نازنین لمسی حضرت امام حسین (رض) له ۷۲ تنو اهل بیتو سره د حق د حاکمیت لپاره د مبارزی او مقابلی داسی تېږه کېښوده چی د قیامت تر ورځی پوری به د اسلام د مقدس دین پیروان په دغه سمه او مستقیمه لاره روان وی.

هوا د کربلا دښته د خدای(ج) د نازولو بندګانو په وینو سره شوه، خو هغه سرونه چی پرته له خدای(ج) نه بل چاته نه وو ټیټ شوی ټیټو نه کړای شول، یزیدی قواو که په ظاهر کی حضرت امام حسین (رض) او دهغه د اهل بیت لوی واړه پخپلو پاکو وینو ولمبول خو مسلمان امت ته دظلم او فساد په مقابل کی د پاڅون او مقابلی لارپه ګوته شوه حضرت امام حسین(رض) د اسلامی امت لپاره د سربښندنی، مقاومت، صبر، استقامت او د فساد په مقابل کی د پلڅون او مقابلی کرښه را ښکله او حضرت امام حسین(رض) داپه اثبات ورسوله چی یو کم شمېر افراد هم کولای شی د خدای(ج) د دین دخدمت لپاره د ظلم او فساد د بی شمېره لښکرو په مقابل کی ودرېږی.

موږ چی نن د کربلا د غمجنی پېښی یادونه کوو او د یزیدی لښکرو د ظلم او ناروا تور داغ مخی ته ږدو نو ورسره جوخت د خپل مسلمان او مجاهد ملت د اتلس کلن تاورین غمجنی کړېکی مو زړونه بوګنوی، پوره څوارلس کاله زموږ د هېواد هره دښته، هر کلی هره باغچه، هر ښار او هره لوړه ژوره د روسانو او د هغوی د غلامانو له خوا د کربلا په دښته بدلی شوی وی او تر هغی وروسته پوره څلور کاله کېږی چی په هېواد د ظلم او ناروا وریځی خوری دی او بیا هم زموږ د هېواد لوېشت لوېشت خاوره د کربلا له دښتی سره سیالی کوی، پرون که د کمونیزم په مقابل کی زموږ مسلمان بچیان د قربانی په سنګرونو کی پراته وو، نو نن د ظلم او فساد په مقابل کی بیاهم زموږ د خوازه وطن مسلمان بچیان پخپلو وینو کی لمبېږی، پرون که کمونیستی ځواکونو زموږ وطن په کنډوالو بدلاوه، نو نن د اسلام مدعیان لګیا دی د کمونستانو نقش قدم تعقیبوی او ملت یې دسرو لمبو په سره بڅېرکی اچولی دی او پرون که د ملحدینو له خوا زموږ دوطن ملی او شخصی شتمنی لوټل کېدی، نو نن د سل په سلو کی د اسلامی نظام مدعیانو دوطن هر څه په کباړ بدل کړل او دوطن ټوله ملی او شخصی شتمنی یې ولوټله.

خو دحق لپاره مبارزه به چی تېره یې حضرت امام حسین (رض) ایښی لا روانه وی لکه څنګه چی د یزیدی قواو په مقابل کی حسینی قواوی وجنګېدی دغه شان د افغانستان مسلمانانو هم ژمنه کړی ده چی د طالبانو د اسلامی تحریک ترژغورنده پروګرامونو لاندی به په هېواد کی دظلم او فساد د بیخی له منځه وړلو تر پړاوه خپلو هلو ځلو ته دوام ورکوی او موږ پوره یقین لرو چی د ظلم او فساد پلویان هرو مرو د حق دپلویانو په مقابل کی ماتی خوری او انشاء الله دلوی خدای(ج) په مرسته به ډېر ژر په هېواد کی واقعاً اسلامی نظام په سیوری کی زموږ مسلمان هېواد وال خپل واکمن ژوند پیل کړی ■

اسلامي امت یا ...

چاروکی چی په انسانیت باندی کومی لوبی وشوی او کېږی، هغه هم د نړیوالو له سترګو څخه نه دی پټی. په جاپان باندی اتمی بمونه استعمال شوی. او نوره نړۍ یې له دا ډول خطر سره مخامخ کړی ده. واړه هېوادونه په دی باندی مجبورېږی چی په کوم لوی طاقت پوری ځانونه وتړی او دهغه استعماری ګټوته مثبت ځواب ووایی. په دی توګه بین المللی اړیکی ددی په ځای چی په مثبت لوری د امن، سولی او هر اړخیزه همکاری دپاره د عدالت، تقوی او خوف من الله په معیاروتوباندی استواری وی، نن سیاسی منفی اړخ خپل کړی دی، ټوله نړۍ له یوه ستر سیاسی بحران او اخلاقی زوال سره مخامخ ده. اسلامی نړۍ د خپل منځی کمزوری اړیکو له کبله د استکباری او استعماری ځواکونه ترمینځ د بزکشۍ خوسکی ګرزېدلی ده.

اسلام په لومړی قدم کی ټوله اسلامی نړۍ د اسلامی یووالی په مضبوطو تارونو سره تړی، لوی خدای(جل جلاله) امر کوی او فرمایی: «ټول دالله په رسۍ باندی منګولی ولګوئ او تفرق مه کوئ». (آل عمران: ۱۰۳).

او د مسلمانانو تر مینځ د اړیکو اساس اسلامی ورور ولی بولی، لوی خدای (جل جلاله) فرمایی: «مسلمانان سره وروڼه دی، د خپلو ورونړو په منیځ کی اصلاح (روغه جوړه) وکړی». (الحجرات).

اسلام مسلمانانوته امر کوی چی د بین المللی نظم او ډسپلین د تأمین دپاره دی دالله د دښمن او خپل دښمن په مقابل کی دومره نظامی، سیاسی، اقتصادی او علمی ځواک برابر کړی چی هغوی ور باندی وویروی، او نوره بین المللی ټولنه د دوی د استعماري او استکباری ظالمانه اعمالو څخه نجات پیدا کړی او د دوی د فرعونی ویتو پاور له مینځه یوسی. لوی خدا (جل جلاله) فرمایی: « د دوی په مقابل کی څومره چی مو له وسه کېږی قوت (ځواک) برابر کړئ، روزل شوی آسونه تیار کړئ چی د خدای تعالیٰ دښمن او د تاسی دښمن وربانندی وویروی». (الانفال: ٦٠).

اسلام د استعماری او استثماری ځواکونه په مقابل کی د ستر ځواک جوړول ددی دپاره فرض کړی دی چی بین المللی ټولنه د دوی له ظلم او تیری څخه وژغوری، د ملتونو تر مینځ د اړیکو بین المللی معیار تقوی او خوف من الله و ګرزوی، د ټولو ملتونو سیاسی، اقتصادی، مذهبی او فکری آزادی تضمین کړی او یو بل په رسمیت وپېژنی. لوی خدای (جل جلاله) فرمایی: «بی شکه موږ تاسی له یو نر (آدم «ع») او یوی ښځی (حوا «ع») څخه پیدا کړی یاست، او تاسی مو ځانګی (ملتونه) او قبیلی ګرځولی یاست چی سره وپېژنی، بی شکه چی عزتمن د تاسی د الله په وړاندی په تاسی کی هغه څوك دی چی زیاته تقوی ولری». (الحجرات).

اسلام مسلمانانوته امر کوی چی د نړۍ ټول ملتونه او حتی ټول ژوندی سری او په هوا کی الوتونکی مارغان د تاسی په شانی امتونه دی چی د دوی په هکله به الله تعالی د قیامت په ورځ پوښتنه کوی چی له چاسره خو ظلم نه دی شوی. لوی خدای (جل جلاله) فرمایی: «او نشته هیڅ خوځېدونکی حیوان په ځمکه کی، او نه هیڅ مارغه چی (په هواکی) الوتل کوی، مګر د تاسی په شان امتونه دی. په کتاب (الوح محفوظ) کی مو هیڅ شی نه دی پرېښی (بلکی لیکلی مودی) او بیا به (د حساب او جزا د پاره) خپل رب ته ورټول کړی شی». (الانعام :۳۸).

اسلام په بین المللی اړیکوکی د انسانی کرامت او انسانی حقوقو په ساتلو او د ملتونو تر مینځ په بین المللی عدالت باندی امر کوی، لوی خدای (جل جلاله) فرمآیی: «دیوه قوم یا ملت دښمنی دی تاسی دی ته نه اړباسی او نه هڅوی چی عدل او انصاف ونه کړئ. تاسی عدل (انصاف) کوئ. همدا (عدل) تقوی ته ډېر نژدی دی». (مائده:۸).

په بل ځای کی لوی خدای (جل جلاله) فرمایی: «کله چی د خلکو په مینځ کی فیصله کوئ نو په عدل سره فیصله وکړئ». (النساء: ۵۸). او په بل ځای کی فرمایی: «ای هغوکسانو چی ایمان مو راوړی دی (ای مؤمنانو!) په انصاف باندی ولاړ خاص د الله دپاره شاهدان اوسئ، که څه هم دغه (شاهدی) د تاسی د خپلو ځانونو، او یا والدینو او یا خپلو خپلوانو په خلاف وی». (النساء: ۱۳۵). اسلام غواړی د بین المللی ټولنی تر مینځ د تعاون او همکاری فضا را مینځ ته کړی د تیری او دښمنی بدمرغه لړۍ پایته ورسوی. لوی خدای (جل جلاله) فرمایی: «په نیك کار او تقوی کی له یوبل سره مرسته کوئ، په ګناه او عدوان (ظلم او تجاوز) کی له یوبل سره مرسته مه کوئ». (المائده : ۲).

اسلام د دی دپاره چی د بشریت او ټولو کائناتو د حقیقی خالق له خوا په حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندی وروستنی نړیوال دین او شریعت دی، غواړی بین المللی ټولنه د ملت، وطن، نژاد، ژبه او رنګ دغیری فطری طبقه بندیو او جاهلی یې ځایه ځان غوښتنو څخه ازاده کړی او د ملتونو تر مینځ اړیکی که د جګړی په وخت کی وی او یا دسولی په زمانه کی په داسی بین المللی اصولو او قوانینو باندی استواری کړی چی د تنګ نظری او محدودیت په ځای په الهی وسعت نظر او جهانداری باندی ولاړی وی چی د مسلك او عقیدی د اختلاف سره سره د نړیوالی سولی او انسانی حقوقو د ساتنی ضامن وی ■

دعوت الی الله

(بخش اول)

(مولوی عبدالرب)

اسلام دو جناح مجلل دارد یکی دعوت و دوهم جهاد با سیف و فروعاتی دیگری را هم در بر دارد و پیغمبر صلی الله علیه وسلم برای نشرو و اشاعت اسلام اولاً راه دعوت را در پیش گرفته که سیزده سال در مکه المکرمه مردم و اهالی آن منطقه را دعوت نموده و بعداً به جهاد مقدس ضد جهالت و طواغیت اقدام نموده که مدت ده سال تا آخرین روز رحلتش در جهاد مصروف و مشغول بوده و این سلسله را بعد از رحلتش صحابه کرام(رض) و آئمه دین و علماء کرام(رح) به پیش برده اند که الحمدلله تا امروز جریان دارد، پس دعوت برای کارکردن و جهاد بمعنی حراست و حفاظت، و در هر وقتیکه این دو رغبت مهم در انسان بروز نماید پس آن مسلمان واقعی بوده نه عنوان بلا معنون در صورتیکه دعوت و جهاد فقط و فقط لله باشد و هیچ کدام غرض و مطلبی دیگری در آن نهفته نباشد و اگر دعوت برای اشخاص و افراد گسترش یابد پس مقصد جهاد و دعوت در آن معکوس میگردد، پس مسلمان را لازم است که در طول عمر خویش برای اعلاء کلمة الله و اعلاء دین مبین اسلام خدمت، جندیت و(عسکریت) خود را نشان دهد که اسلام از ابتداء تا امروز بواسطه دعوت گسترش یافته و دعوت فریضه، بزرگ و مقدس هر مسلمان است چنانچه خداوند متعال میفرماید: (شما دعوت الی الله را به حکمت و طریقه نیکو و پسندیده انجام دهید) و همچنان رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده : که حضرت سعد ساعدی رضی الله عنه روایت نموده که رسول الله صلی الله علیه وسلم وقتیکه در جنگ خیبر لوای توحید را بدست حضرت علی کرم الله وجهه داد برایش فرمود: که قسم است به ذات خداوند(جل جلاله) اگر شما یك نفر را رهنمائی کردید و بواسطه شما راه هدایت را در پیش گیرد بهتر است برایت از شتر های سرخ و بهتر است از دنیا و همه چیزیکه در آن است. و در آن وقت به نزد عرب ها شتر های سرخ خیلی ارزش داشت و آنها محبت زیادی با این شترها داشتند که خیلی قیمت هم بودند پس دعوت قسمیکه ذکر گردید باید به اسلوب و حکمت خاص و طریقه، نیکو، و به لهجه لطف و مهربانی و اخوت و برادری انجام گیرد که مردم را به اعلاء کلمة الله و صراط مستقیم دعوت نماید. و دعوت نباید برای شخص و افراد و گروه مخصوص که در بدل آن اجر و پاداش گیرد و یا غرض کرسی و مقامی را داشته باشد و هرگاه چنین باشد پس این را دعوت الی الله گفته نمی توانیم قسمیکه درین روزها مروج گردیده که بعض اشخاص مخصوص، با اغراض مخصوص و از شبکه، مخصوص حمایت و تقویت می گردند. خود را داعی خطاب میکنند و در حقیقت این ها مردم را به غلامی آن دولت و شبکه دعوت میسمایند.

پس امروز چرا دعوت مسلمانان به منزل مقصود به پیش نمی رود؟ و سبب پیش رفت و تقدم چطور بدست میآید؟ و ما خود را به کدام اخلاق و اوصاف مبزین سازیم تا مصدر این خدمت جلیله گردیم؟

و کدام عوامل و اسباب مانع‌وسد راه ماست که دعوت به سوی ناکامی مواجه گردیده است.

اولاً اینکه قسمیکه در آیه مبارکه ذکر گردیده «ادعوا الی سبیل ربك الخ» و این آیه کریمه به صراحت و وضاحت جواب میدهد که دعوت برای خداوند متعال و برای اعلاء کلمة الله که تمام راه های دیگری را مسدود میسازد که دعوت فقط و فقط الله(ج) باشد که در ان اغراض و مقاصد دیگری و تحرکات اشخاص مغرض در آن جاه نداشته باشد و نه دعوت یکدام قوم خاص و ملت خاص باشد و نه سبب این تحرك کدام منبع مادی باشد که میخواهد به این وسیله به مطلب و مقامی برسد تا در جامعه مطرح گردیده و مورد توجه قرار گیرد.

ثانیاً اینکه شخص داعی خودش اوصاف و اخلاقی که برآی یك داعی لازم است دارنده نیست و او خودش فاقد این صفت است و نفس خود را تذکیه نه نموده و خواهشات او بالایش غالب است و هر عملی را که اجراء میکنددر آن اخلاص کامل ندارد.

۳-ثالثاً اینکه شخص داعی خودش طامع است یعنی او بدون ذات خداوند«ج» روی طمع به دیگری آورده و اینکه طریقه و اسلوب دعوت را کما حقه عملی و اجراء نکرده، که شخص داعی به چه طرز و طریقه دعوت نماید و چه نوع عکس العملی همرای اشخاص مختلف المزاج و مختلف الافکار داشته باشد و از چه پیش آمدی کارگیرد و شخص صابر و داراي عزم قوی و متین باشد چنانچه از آیت شریف به صراحت فهمیده میشود که از پیش آمد خوب و نیکو کارگیرد.

رابعاً لازم است که شخص داعی مقدم از همه خود را به اخلاق نبوی صلی الله علیه وسلم ظاهراً و باطناً مزین ساخته و بعداً به طریقه مخصوص و اخلاص و فراست و با صبر و حوصله شروع به کار نماید ■

خدمات دینی و اجتماعی علماء ...

شعار ناسیونالیستی که رقاعه زمزمه کرد: (برادر هم وطن) این شعار در آینده ها دین و آئین ملی گرایان عرب گردید.

در ترکیه از (ضیاء کوك) تیوریسن نشنلست که بعد از مرگش پدر ملی گرائی در ترکیه لقب گرفت و غرب آنرا بنیان گزار نظریۍ (ترکیه نوین) میداند.

وهمچنان در افغانستان از محمود (طرزی) یاد آور شد که در راه غربی ساختن کشور تلاش بزرگی کرد و نظریات ملی گرائی در افغانستان را روح تازه بخشید و رهنمائی شد در آینده ها برای عناصر نشنلست و گروهای ضد حکومت و نظام اسلامی در کشور و از اینطریق و به این واسطه توطئه های را که غرب صلیبی قرنها قبل علیه اسلام و مسلمین بکار انداخته بودند و جهان اسلام را آن توطئه ها به خود پیچیده بود به افغانستان هم تحت یك برنامه و پروګرامی داخل گردید. اما توفیق آن توطئه ها و توطئه گران در هر جای یکسان نبود.

در افغانستان قبل از آنکه ریشه دواند و بیخ کند به اثر اقدام آگاهانه و ایثار منداند جامعه، روحانیت و علماء کشور که با قیامهای اسلامی و ملی ملت مسلمان افغان همراهی میشد آن توطئه منجر به ناکامی گردید.

بسیاری از حرکتها و جنبشها در تاریخ گذشته با ثبات خوب و ارزشمندی آغاز یافته اما پایان ناگوار و

(ادامه دارد)

د ادب ملغلری

مسلمان از برای دین ستیزد

(مولانا الشیخ غلام النصیر چلاسی)

گروه طفلکان در کوی تنگ است
همه را بر یکی بازیچه جنگ است
اگر پرسی زمن بازیچه راهم
نه چندان زینت وحسنی نه رنگ است
مسلمان را از برای دین ستیزد
برای نفس از جابر نخیزد
نه بیند روی میدان بهر نفسی
برای نفس خود خونی نریزد
اگر چه سخت تربرکافری هست
ولی بر مؤمنی مشفق تری هست
زمؤمن انتقام خود نگیرد
اگر چه زور دارو قادری هست
چگونه حالت اجداد مابود
که در امداد دین امداد ما بود
مسلمانان خدا را یاد بودیم
خدای پاك ما چون یاد مابود
چودل را بر خس و خاکی نهادیم
ازان پس از نگاه حق فتادیم
چو هر یك چیز در دست خدا بود
خدا دادیم از کف هر چه دادیم
تعجب اینکه زر در ترك زربود
به ترك جاه جاهم پیش در بود
در اول عشق نقصان می نمودم
در آخر عشق دفع هر ضرر بود
اگر عاشق به ایوانی نشاندی
وگر در تازه بستانی نشاندی
چوبی یار است گوید در دل خویش
که تو او را بزندانی نشاندی
دلا دنیای دون گرچه غمی هست
بکن صبری که کمتر از دمی هست
نه شادی را دوام است و نه غم را
نه ایوبیست اینجا . نی جمی است

د دین رڼا

محمدعارف غروال

چی د دین لارکی شی قربان له هغه چانه قربان
چی توره شپه له منځه وړی هغی رڼا نه قربان
چی لاتراوسه د حسین په پاکو وینو سور دی
هغه میدان د معرکی د کربلا نه قربان
چی سربی ورکړ، خو د دین شمع یې بله کړله
د سترګو تور دزړه ټوټی د مصطفی نه قربان
چی له هرڅاڅکی یې د وینو سیلابونه جوړ شول
نور البصر د فاطمی بی بی زهرا نه قربان
چی پیلامه یې د خپل سر په ورکولو وکړه
په پاکه لاره کی له داسی ابتدأ نه قربان
چی لا تر اوسه په دی لارکی ورکوی سرونه
د طالبانو د سرونو له سودانه قربان
غرواله مړه مه ورته وایه ژوند یې وګټلو
ښکلی امام پسی له داسی اقتدا نه قربان

له تشابه څخه ځان وساتو

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمایی چه کله رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دعاشوری دورځی روژه ونیوله او صحابه ته یې هم دنیولو ویل وکړل.

صحابه و ورته وویل چه ای د الله رسوله دا خو هغه ورځ ده چه یهود او نصاری یې تعظیم کوی نو رسول الله(صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: چه آینده کال به انشاء الله موږ نهمه روژه نیسو. عبدالله بن مسعود فرمایی چه آینده کال لانه و راغلی چه رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) وفات شو.

معلومېږی چه د صحابه کرامو جواب رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) په داسی وخت کی ورکړی وه چه د محرم میاشت یې پیاونه موندله.

نو دی دی کېله چه په حدیث عمل د رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) په حیات کی اګر چه و نه شو لکن امت ته رهنمایی پیدا شوه چه آینده باید موږ له تشابه نه ځان وساتو او روژه باید په نهم ونیسو د نهم ورځی اصلاً دوه مطلبه کېدای شی چه علماء کرامو دواړه بیان کړی اول دا چه آینده دلسم پر ځای موږ باید په نهمه ورځ روژه ونیسو دوهم دا چه د لسمی ورځی سره نهمه ورځ هم روژه نیسو.

چه په دی وجه به دیهود او نصاری و سره فرق راشی.

اکثراً علماؤ دوهمی رایی ته ترجیح ورکړی چه نهمه او لسمه دواړه ورځی باید روژه ونیول شی که د نهمی ورځی روژه ځنی پاتی شوه په یولسمه ورځ دی ونیسی.

لاکن مولانا محمد منظور نعمانی د معارف الحدیث مؤلف وایی چه نن عصر کی چه نه یهود او نه نصاری روژه نیسی او نه هغوی حساب په عربی میاشتو کوی د تشابه هیڅ امکان نشته نو د نهمی او یولسمی ورځی روژی نیولو ته هیڅ ضرورت نه شته.

د وحدت ورځپانی حخه په منته

دَوباشد پلو باشد

خراجه احمد مجاهد

دیر پخوا زما یو دوست خپل نژدی دوستانوته میلمستیا کړی وه، چی ما هم پکښی برخه اخستی وه. د کور خاوند چی کوم وخت دسترخوان وغوړاوه، نو وی ویل چی دوستانو یو متل دی چی وائی پیاز باشد پیشانی باز. که څه کم وی معذرت می ومنئ. په ناستو خلکو کښی یو سړی په توقه ورته وویل ورورہ اوس داخبری زړی شوی دی او نوی شعاورنه راوتلی دی چی یوټی دادی: «دو باشد پلو باشد». ټولو وخندل او داتی یوه توقه وبلله.

خو د وختونو په تیریدو سره اوس داسی معلومېږی چی ریښتیا دانوی شعار د عمل جامی اغوندی، مقصد می د حزب اسلامی او د جمعیت اسلامی تر مینځ د مذاکراتو خبری دی.

نن سبا په هر ځائی کښی د نوی تړونونو، وعدو او معاهدو ګنګوسی تاری اوریدل کیږی. او لکه چی معلومه شوه، دواړو غاړو پری اعتراف هم کړی دی.

باور وکړئ کوم وخت چی د لومړی ځل لپاره می واوریدل باور می پری نشو کولی دا ځکه چی د دری ژبی یو مشهور ضرب المثل دی چی وائی: «آزموده را آزمودن خطا است» که چیری مذاکرات د حزب اسلامی او جمعیت اسلامی تر مینځ وی نو بیا خو حزب اسلامی د هماهنګی دعالی شوری غړي دی، او څو ورځی وړاندی د هماهنګی عالی شوری پریکړه وکړه چی د مخالفینو سره به مشترك کمیسیون خبری کوی. نو بیا سوال پیدا کیږی چی ایا استاد ربانی به دا شهامت ولری چی د جنرال دوستم په ضد اعلان کړی جهاد به بیرته واخلی.

د جمعیت متحد او دمذاکراتو پشکو خو بیا شیخ الحدیث استاد عبدالرب رسول سیاف دی چی په حکمتیار ئی د مریض او لیونی فتوی کړی وه او همدارنګه د شهادت ورځپانی لیکلی دی چی استاد سیاف د (کی جی بی) غړی او دا هغه وخت معلومه شوه چی استاد سیاف ببرك کارمل له زندانه خوشی کړو د کابل څخه د کابل تورخم په لویه لیاره پیښورته راغی البته د دوستانو په کومك، او داسی نور ډیر توروته.

بلخوا د جمعیت په موجودیت شك دی دا مذاکرات خو د شوری نظار سره روان دی ځکه چی جمعیت خو هغه وخت جمعیت ؤ چی تورن اسمعیل خان د هیواد د شپږو ولایتونو امیر ؤ. په هلمند کښی مولانا عبدالغفار والی و او ملاتقیب الله د کندهار د قول اردو اختیارات درلودل او حتی د غزنی قاری بابانه د کابل په هرائی ډګر کښی د تشریفاتو ګارد سلامی شو، او د هیواد په شمال کښی د استاد عطا او مولوی محمد عالم صاحب د مرټروتو قطار به د سالنګ لویه لاره بنده کړی وه.

خو اوس چی اسماعیل او هرات سره بیل شوی دی، او ملاتقیب الله خان طالبانو ته تسلیم شو او د هلمند مولانا عبدالغفار لادرکه دی. قاری بابانه په غزنی کښی څوك د قاری صاحب په نامه هم نه وائی، د بابا لقب خو پریږده. د مزارشریف والی مولوی محمد علم اوس د خلقو عربضی استاد ربانی ته وړی او ولایت جنرال صاحب عبدالرشید دوستم ته حواله کړی شو.

نو بیا خو ویلی شم چی جمعیت خو تش په نامه جمعیت دی. ځکه چی شوری نظار ډیر له پخوانه د جمعیت په چوکاټ کښی خپل عملی فعالیت نه کاوه.

هغه آوازی او خبری چی ورستی انقلابات چی په ارګ کښی شوی دی. د جمعیت او د نظار د شوری اختلافات څرګندوی.

جمعیت هغه وخت جمعیت ؤ چی دهیواد ډیر ولایتونه ئی پرته د شوری نظار په لاس کښی لرل او اوس خو هیڅ نشته.

د ۱۳۷٤ د حوت دمیاشتی د اتمی نیټی د شهادت په ورځپانه کښی می ولوستل چی د جمعیت او حزب اسلامی مذاکراتونه خلق سترګی په لاردی او دلیل ئی هم دا ویلی دی چی له یوی خوا دا دوه ګوندونه پخوانی هویت لری او بل داچی د بهرنیو په لاس نه دی جوړ شوی او د بلی خوا د هغوی اساس د تقوی اساس دی.

داچی نژدی یو لك (سل زره) کسان دی دوی د تقوی په نتیجه کښی شهیدان او یا زخمیان شول او په سلګونو زره خلق بی کوره او مهاجر شول. دکابل ښار نوی فیصده په کنډوالو بدل شو. د کندهار خونړۍ‌جګړی چه په سلګونو انسانانو خپل خوږ ژوند دلاسه ورکړی او داسی نور داټول د تقوی نتیجه ده.

په شهادت کښی ویل کیږی چی بل دلیل د خلقو د خواشینی دادی چی همدا دوه ګوندونه د رهبری او زعامت نقش لوبولی شی.

نو زه وایم چی بیناخو څه کړی نابینا هم د دوی د رهبری احساس کولی شی چی دا به څنګه رهبری وی!

د کابل د اداری جنایتونه خو تر نورو خلقو پخپله حکمتیار صاحب ته او همدارنګه د حزب اسلامی ټولو غړوته ډیر ښه معلوم دی.

د حزب اسلامی د تقوی او اسلامی بودن یوه ډیره ښه نمونه اوس هم په سروبی کښی په یوه پوسته چی د قوماندان زرداد په لاس کښی ده لیدل کیدی شی.

دا هغه پوسته ده چی زرداد خان فریادی یو سړی په ډیره‌وحشتی بڼه او روحیه ئی توم ئی سپی دی. البته دانوم په زرداد خان فریادي او یا حکمتیار ورته انتخاب کړی وی او د خلقو نه غوښتی په خوله پریکوی، هلته خو د شهادت خبریال کله هم تښی ورتللی او که ورغلی هم دی نو هغه غریب هم څه نشی ویلی ځکه د حزب اسلامی لپاره هم دا یوه پوسته پاتی ده نور څه خو عملاً نه لری. د حزب اسلامی قرتونو چی د شینتولو نه منډه شروع کړی ده. اوس په دی ورځو کښی خبر شوم، چی په لغمان کښی دمه کوی. او که بیا . حزب اسلام رهبری په مزارشریف کښی او د هغه ولایت شاوخوا کښی د خپلو ګروپونو خبری کوی. نو زه ورته ویلی شم چی «زور لالا است که انګور در تاکها است» هغه د جنرال صاحب دوستم په زور ناست دی که نه نو د هغوی سرنوشت به د مولوی محمد عالم په شان وی نو ځکه ویلی شم چی دا خواشینی د حزب اسلامی او جمعیت لپاره هغه څوك لری چی وائی په لاری ویش کښی به څه راورسیږی او د افغانستان خلق هیڅ نوع خواشینی په دی حقله نه لری ځکه چی د مذاکراتو اساسی ټکی د څوکیو تقسیم دی.

که حضرت صاحب د دؤو میاشتو لپاره د ملك صدر و خو اوس د افغانستان پخوانی جمهور رئیس ورته وائی او که استاد فرید ونه شوای کولای چی خپل دکار دفتر په کابل کښی جوړ کړی خو د افغانستان د پخوانی صدر اعظم نوم ئی وری دی.

که چیری مذاکرات په دی خاطر وی نو د حزب اسلامی یو څونور کسان به د وزیر صاحب او یا معین صاحب القاب ترلاسه کړی.

که خبره په پخوانیو معاهدو او تړونونو وی خو حضرت صاحب په خپله یوه مرکه کښی وویل چی زه تش په نامه رئیس یم په ارګ کښی ئی دوی کامری راکړی دی. نور کارونه ټول احمدشاه مسعود کوی. یا د حکمتیار مصاحبه د شهادت په همدی شماره کښی ولولئ. چی وائی د صدارت لپاره ئی د اسلام آباد دتړون نه وروسته کابل ته تنوتوته پری نه ښودم، اوس هم هغه شعور او هغه تړونونه او معاهدی دی او هغه ورځی او شپی دی مانه دشاعر شعر رایاد شی، چی وائی:

څه د شرابو په پیالو وران شوی وطنه زما

څه د کعبی په قسمو وران شوی وطنه زما

دامنم چی قسمونه به تازه شی کاغذونه به نوی شی راډیوګانی او ژورنالستان به پری تبصری او خبری وکړی خو دا می زړه نه منی چی د حکمتیار او مسعود ګډ حکومت د دوی خپلی ستونزی حل کړی، اولس خو پریږده.

خو چی څوکی، قدرت او پیسی راشی، څه چی سړی ته د دین او که د ایمان نه خلاصوی نو ځکه می د خپل دوست خبره را یاده شی چی ویل ئی، شعار بدل شوی دی. «دو باشد پلو باشد» اوس ئی عملی جامی اغوستی دی ■

د نوی ائتلاف د ملیشو

خبریال زیاتوی چی تر اوسه پوری د کابل د اداری څواکونو شپږ ځله د طالبانو په مرکزونو او سنگرونو داسی زوروری حملی کړی دی چه په دری تیروشویو کلونو کی ساری نه لری، خو هر ځل داسی غابښ ماتوونکی ځواب ورکړی شوی دی چی د تیښتی لاربی ورکه کړی ده.

د باوری خبرځایونو د خبر له مخی په دی عملیاتو کی دکابل د اداری هوایی ځواکونه هم فعاله برخه لری چی ټولی هوایی بمباری د هند هغه مجرب پیلوټان تر سره کوی چی د کمونیست رژیم په وخت کی بی د مجاهدینو مرکزونه او استوگنی سیمی بمباری کولی.

خبریال وایی چی اوس دښمن ته له زیاتو تلفاتو رسولو وروسته د جنگی تکتیك له مخی د طالبانو ځواکونه له بند غازی او څینو نورو سمو څخه خپلو دفاعی کرسوته په شا شوی، په چهار آسیاب او حینو نورو مهمو سیمو کی د دسمن د بریدونو لپاره د تیاری په حال کی دی.

خبریال داهم وایی چی په دغو بریالیو عملیاتو کی د کابل د اداری پر ځواکونو برسیره چی سخت تلفات ورته ورسیدل د کشمیر خان په نامه د حزب اسلای د قوماندان ځواکونو ته هم د سر او مال زیات تلفات رسیدلی دی، چی یوازی پنځلس تنه مری یی تر اوسه پوری سرویی ته انتقال شوی او له ژوبلو کسانو حخه یی دکابل روغتونونه ډك دی. دکابل اداری او حزب اسلامی ځواکونو غوښتل چی په خپلو دغو گډو عملیاتو سره دا ووسیی چی دوی کولای شی د طالبانو د اسلامی تحریك ځواکونو ته ماتی ورکړی، خو چی هر ځل یې حمله کړی ده داسی ماتی یې خوړلی ده چی دوی یې اټکل نه شو کولای ■

یوه نسخه د قرآن کریم د بی عزتی ...

نرور په تلاوت بآندی لگیا ده. خواښی گډی وډی او بدویل پیل کړل. نرورییی ورته وویل داده چی پاره پایته رسیږی بواځی دوه لیکی پاتی دی. په دی بآندی خواښی په قهر شوه او قرآن کریم یی د اور په لمبو کی غورزار کړ (انا لله...) نرور چیغی کړی چی ورغله اور مړ او سوړ دی، بیرته کوټی ته خواښی ته راغله که گوری چی وجود یی مسخه شوی او په خره بدله شوی ده، یواځی مخ یی د انسان دی. د کلی خلك چی په واقعه خبر شول په ټوپوبی پیل وکړ، د کوروال لگیا دی په ټیکانو پسی گرزی او ښځه له عامو خلکو څخه پټوی ■

د غور ولایت د تیوری ولسوالی ...

او زیات شمیر توریی زخمیان شول، په موږشویو کسانو کی د عبدالحکیم او عبدالله په نامه دوه تنه قوماندانان هم شامل دی.

همدارنگه د مقابل لوری پنځوس تنه ژوندی نیول شوی، ۶۰۰ میله سپکه او ۲۰۰ میله درنده وسله له زیاتو مهماتو سره د طالبانو د اسلامی تحریك مجاهدینو ته په لاس ورغله. اوس په دی ولسوالی کی بالکل امنیت دی او د ټولو تخریبی عملیاتو نښی نښانی له منځه وړل شوی دی ■

د ATC د مؤسسی ...

محترم کفایت الله ابلاغ د ATC د مؤسسی رئیس په دی هکله داسی وویل:

«د عزتمند مولوی کرامت الله ترقانیار، د پکتیا دوالی، او دهغه ولایت دنورو کارکوونکو د هڅو څخه چی د دی موږ د بیرته لاس ته راوړلو لپاره یې کړی دی منته کوم. په یقین سره چه دغه ډول همکاری د ATC د کارکوونکو د لاړیات تشویقولو موجب گرزی تر څو د خپلو مینه والو د ماین پاکولو د خدمت په لارکی لاړیات کوښښ وکړی».

نباغلی ابلاغ زیاته کړه: «موږ د ماین پاکولو دنده تر اوسه د گران هیواد په شپاړس بیلو بیلو ولایتونوکی د خپلو پوزو او دوو سوو سرښندونکو پرسونل له خوا په ډیر مخلصانه ډول او پوره بی طرفی سره سرته رسولی ده، د گران هیواد په هره برخه کی د هغو ځایونو خلکو، ولایتی شوراگانو او رسمی مقاماتو زموږ کار او زیار ډیر ستاېلی دی چه په دی لړکی ددی موټر بیا موندل او موږ ته راسپارل ددغو راز منابعو د پاملرنی لوبه نښه ده. هیله من یو چی د پخوا په څیر د نورو ولایتونو مسئول مقامات هم د ACT دورك شویو موټرونو په بیاموندلو کی خپله موثره همکاری و نه سپموی دا خبره د یادونی وړ ده چی د سږکال په څوورستیو میاشتوکی دا د ACT د مؤسسی دوهم موټر دی چی د طالبانو په ترلاس لاندی سیموکی بیاموندل کیږی او دغی مؤسسی ته ورسپارل کیږی.

محترم مولوی نور جلال د شریعت اونیزی سره په مرکه کی:

موږ د اسلامی شریعت د پلی کولو اراده کړی او هیڅ به مو دخپل دی عزم څخه ونه گرځوی

د طالبانو آرزو شهادت دی او کله چه هدف شهادت وی روحیات پخپله لوړ وی.

د اسلامی تحریك د اهدافو د پلی کیدو پوری به جهادی سنگر پرینږدم.

محترم مولوی نور جلال چه د طالبانو د اسلامی تحریك شخصیت دی او خپل ډیروختونه د جهاد په تاوده سنگر کی تیروی، د شریعت اونیزی د خبریال دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل طالبان د خدای د رضا او په هیواد کی د ظلم او بربریت د خاتمی لپاره را پاڅیدلی او خپل سبقونه ئی ددی عالی هدف د تحقق پخاطر پریښی او غواړی چه په هیواد کی یو سوچه اسلامی نظام حاکم کړی، همدا علت دی چه د هغوی روحیات لوړ دي او د جهاد سنگرته په افتخار ځغلی.

ددی سوال په ځواب کی چه د اسلامی تحریك په رابنکاره کیدو سره د هیواد په هر اړخیزه وضعه څه اغیزه پریوته مولوی صاحب وویل: دهغه وخته چه اسلامی تحریك میدان ته راوتلی او دهیواد پاخه برخی ئی پخپل کنټرول کی راوړی، هلته اسلامی شریعت پلی شوی، ظلم او ناروا ختمه شوی د خلکو ابرو او ناموس خوندی شوی، ملی شتمنی دلوټمار څخه ژغورل شوی او پوره امنیت منځته راغلی دی.

ددی پوښتنی په ځواب کی چه د کنړ ولایت دینی طالبان اوس د هیواد په کومو ساحو کی په فعالیت بوخت دی، مولوی صاحب وویل: لکه څرنگه چه موږ د روسانو په ضد په جهاد کی مختلفو ولایتونو لکه پکتیا، ننگرهار، کنړ، او دهیواد نور شمالی ولایتونوته تللی وو او هلته مو د خپلو مجاهدینو ورونو تر څنگ په جهاد کی عملی برخه اخستی وه، اوس چه په هیواد کی د فساد په ضد جهاد شروع شوی زموږ ملگری د هیواد په مختلفو ولاتونو لکه هرات، قندهار، خوست او چهار آسیاب کی په ډول ډول فعالیتونو بوخت دی.

زموږ ددی پوښتنی په ځواب کی داچه تاسویه دی ورورستیو وختونوکی دجهاد دسنگر څخه راغلی یاست، هلته د طالبانو روحیات او معنوی قوت څه ډول وه، مولوی صاحب وویل: څرنگه چه طالبان دیو ستر هدف پخاطر را پاڅیدلی او ارزوئی شهادت دی نو بناپردی د هغوی معنوی قوت ډیر لوړ دی او د دښمن په وړاندی د مضبوط جهاد ټینگه اراده لری.

ددی پوښتنی په ځواب کی چه تاسو په فراه کی څه رنگه د اسماعیل د ملیشو په اسارت کی ولویدی مولوی صاحب وویل:

ماپه فراه ولایت کی دامنیت مسئولیت په غاړه لرلو کله چه د اسماعیل ملیشو هلته حمله وکړه نو زما ډیر ملگری شهیدان شول موږ محدود څوکسه ژوندی وه چه مهمات مو ختم شول او د اسماعیل د ملیشی، په اسارت کی راغلو د ډیر تعذیبونو وروسته چه د خاد د کمونستانو په لاس راته راکړی شول اخر عمومی تبادله وشوه او زه هم پدی لړکی آزاد شوم ■

خلك دی خپل بچیان دعلم په گټه د سمبالولو په غرض په مدرسو او پوهنتونوکی شامل کړی

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر را کوی چی دکندهار د ارغنداب په ولسوالی کی دیوی دینی مدرسی د پرانستلو په مراسمو کی د هغی سیمی یوزیات شمیر علماو، مشرانو او عامو خلکو برخه واخسته.

دوغی لیلیی مدرسی چی څه نا څه څلورسوه تنه زده کوونکی به پکی په لوست بوخت وی د پرانستلو په مراسمو کی د هغی ولسوالی ولسوال حافظ عبدالمجید او یو شمیر نورو علماو ویناوی وکړی او دهغی سیمی خلك یی دعلم او زده کړی گټو او فوایدوته متوجه کړل. له خلکو څخه یی وغوښتل چی خپل بچیان د علم په گټه د سمبالولو په غرض په مدرسو او پوهنځیو کی شامل کړی. د مدرسی د پرانستلو دغه درنده غونډه په گران هیواد کی د مسلمان او مجاهد ملت په خوښه د اسلامی نظام د حاکمیت په دوعا پای ته ورسیده ■

اجتماع بزرگ اتحاف ادعیه به روح ...

که در این اجتماع بزرگ دینی علماء از شخصیت، رشادت و فداکاریهای شهید (لاتق) یادآور شده و پیرامون خدمات و کارنامه های جهادی علماء و جامعه، روحانیت بیانیه های عالمانه و مفصلی ایراد داشتند.

و پیرامون اهداف و مقاصد بزرگ اسلامی و ملی تحریك اسلامی طالبان به حاضرین روشنی انداخته گفتند: که تحریك نجات بخش اسلامی طالبان، غرض حاکمیت قرآن، سنت نبوی (صلی الله علیه وسلم) و تنفیذ شریعت و احقاق حقوق حقه شرعی و قانونی فرد فرد مسلمان افغان و طرد و رد فاسقین، ظالمین و متجاوزین به پای خواسته و تا آخرین رمق حیات خود به این جهاد و پیکار مقدس ادامه داده و از پای نخواهند نشست، مبلغین طالبانی را که در این شرایط حساس و مهم تاریخی در کشور که از هر وقت دیگر کرده سرنوشت ساز و تعیین کننده میباشد غفلت مینمایند و متوجه اهمیت و حساسیت وقت نشده اند متوجه ساخته افزودند که امروز در تاریخ کشور بزرگترین مقابله و پیکار خونین میان اهل الله، علماء، و شاگردان مدرسه مدینه الرسول صلی الله علیه وسلم و دشمنان عُقدمَند، جامعه، روحانیت و علماء، و ظلمة و فساق و فجاریکه تمام شعایر الله و احکام دین خدا را زیر پای گذاشتند و بر نوامیس دینی و ملی مردم بی محابا تجاوز نمودند، به شدت ادامه دارد اگر در این وهله، حساس احساس مسؤولیت نکردیم، خدا، پیامبر، مذهب، مسلك علمی و تاریخ ما را نخواهد بخشید باید در کنار برادران هم صنف و هم وطن خود در سنگر های حق علیه باطل قرار گیریم.

علماء، طلاب و حاضرین این اجتماع بزرگ از اداره، ائتلافی خواستند که هر چه زودتر از سلطه، غاصبانه، خود که به زور برچه بر مردم کابل خود را تحمیل داشته دست بردار شود تا یك نظام واقعاً شرعی در کشور حاکم گردد، ورنه وجیبه، دینی و ملی هر فرد مسلمان است که مقابل این اداره، وابسته به روس و هند قیام کنند و در کنار تحریك اسلامی طالبان قرار گرفته رفع مسؤولیت نمایند زیرا اداره، فعلی ربانی مسعود غیر شرعی و غیر اسلامی میباشد.

خبر نگار ما می افزاید ذواتیکه به نمایندگی علماء، و طلاب در این اجتماع بزرگ صحبت کردند عبارت بودند از محترم مولوی محمد مسلم (حقانی) محترم مولوی امرالدین مسئول صحت عامه (نماینده گی پشاور) محترم مولوی شمس الدین مسؤول ولسوالی چهار آسیاب، مولوی محمد صابر، مولوی داد خدا، محترم مخدوم عبدالسلام و محترم مولوی عبدالعزیز تخاری.در پایان اجتماع علماء، طلاب و حاضرین این اجتماع بزرگ همه با امیر المؤمنین محمد عمر (مجاهد) رسم بیعت را به جای آوردند و جناب شیخ الحدیث و القرآن مولوی کفایت الله صاحب ضمن صحبت دوعایه، خویش انتخاب جناب ملامحمد عمر (مجاهد) را به طلاب و حاضرین تبریك گفته فرمودند: امید دارم که ملا محمد عمر (مجاهد) ان شاء الله نقش قدم حضرت عمر را پیموده و آن خواهد کرد که آن جنابان نموده بودند و فرمودند اگر صحت یاری کرد ان شاء الله به خاطر رضاء خداوند (جل جلاله) عازم افغانستان خواهم شد. این اجتماع بزرگ به ساعت ۲ بعد از ظهر خاتمه پیدا کرد و طلاب متعهد گردیدند که بسنگر های داغ جهاد رهسپار شوند ■

اجتماع بزرگ در لیسه، سید ...

تعداد کثیری از شاگردان استادان و علاقمندان علم و دانش اشتراك ورزیده بودند، که دران اجتماع پیرامون اهمیت علم و دانش و تعلیم و تربیه صحبتهای عالمانه و مفید صورت گرفت.

و مسؤولین امور علاوه بر تائید و تأکید بر اهمیت تعلیم و تربیه افزودند: که تحریك اسلامی طالبان نه تنها که مخالف تعلیم و تربیه، اولاد وطن نیستند بلکه به کمال علاقمندی و احساس مسؤولیت با در نظر داشت وجائب دینی و ملی که در آن مورد دارند متوجه بهبود امور تعلیم و تربیه و گسترش و عام شدن هر چه بیشتر تعلیم و تربیه دینی و عصری در کشور بوده تا اولاد وطن در زیر سایه اسلام و عقیده دینی به حصول مراتب عالی علوم و دانش سایِنس و علوم عصری برسند تا جواب گوی ضروریات و حوایج عصر و زمان خود باشند، اجتماع به دعای ترقی و تعالی مادی و معنوی وطن به خصوص تعلیم و تربیه به پایان رسید.

محمود مستیری په مات زړه ...

کی ده...!

د افغانستان مسئله په لوی لاس اوس داسی مرحلی ته رسیدلی ده چی په مسئله کی داخیلو اړخونو له توان څخه هم وتلی او د حل لاره یی ورکه کړی ده.

هوا افغانستان د انسانی ټولنی دیو رکن په توگه هغه هیواد دی چی دیوه نړیوال سازش په نتیجه کی د روسانو له ماتی سره سره د اوږدی مودی لپاره له یوه داسی کړاوڼه سره مخامخ شو چی پراو په پراو دکړاوونو لړیو دوام وموند او خبره دی حدته ورسیده چی اوس د سمندر له ژوری کندی څخه د دغی دوبی شوی بیړی درا ایستلو لپاره د مانوگالو فکر کارنه ورکوی او لامبوزن پکی بی سیکی شول.

دا دی یو ځل بیا ددغی لانجمنی مسئلی په حل کی بوخت یو سیاسی ماهر په مات زړه اعتراف کوی چی د مسئلی د حل لاربی ونه موندلۀ ځکه خو نو استعفی کولوته مجبور شو.

موږ په داسی حال کی چی د خپل خواږه وطن په گوټ گوټ کی اسلامی نظام، امن او استقرار ته تږی ناست یو محترم محمود مستیری ته دسه صحت دوعا کوو او هیله من یو چی موږ پخپله ددی جوگه شو چی پخپل هیواد کی سوله او امنیت راولو.

افغانان بیاهم په دی اړه اندیښمن دی چی که څیری ملگری ملتونه زموږ د مسئلی دحل په اړه دیو بل ځانگړی استازی په ټاکلو لاس پوری کوی کیدای شی چی هغه به هم له دغه شان زیاتو منهو را منهو وروسته له ناکامی سره مخامخ وی او بیا به هم افغانان داور په بټی کی نیتی کیږی، احیاناً که ملگری ملتونه کوم استازی رالیږي تو دیوی مشوری په توگه هغه باید دغو ټکوته متوجه وی:

۱- دسولی د نوبل د جایزی د گټلو فکر دی له ځانه سره و نه لری.

۲- د افغانانو د ټولنیز ژوند په اړه دی کافی معلومات ترلاسه کړی.

۳- د افغانستان د ملی گټو له په پام کی نیولو سره دی د هیواد د مسلمان او مجاهد ولس رأیه ځانته معلومه کړی او دملت غوښتنی پر بنادی خپل پروگرام عیار کړی.

۴ - یو داسی کوټلی پروگرام دی نه ځانه سره ولری چی مسلمان ملت لپاره د منلو وړ وی.

نو کیدای شی چی په دغو صفاتو متصف شخص به وکړای شی د مسئلی دحل لار ولټوی او له افغانانو سره د دغه بحران په حل کی مرسته وکړای شی ■

رژیم کابل مقدار کافی اسلحه، کیمیاوی ...

اسلحه، کیمیاوی بدست آورده است. اگر چه از زبان رحیم غفورزی نماینده رژیم ربانی بوقت نشه و سرگرمی بر آمده، که احمد شاه مسعود فابریکات تولید اسلحه، کیمیاوی در پنجشیر دارد، اما اطلاعات آئینه، افغانستان مشعر است که رژیم ربانی از دو دوست خود (ایران و هندوستان) اسلحه، کیمیاوی بدست آورده و احمد شاه مسعود توانائی علمی و تخنیکی تولید اسلحه، کیمیاوی را ندارد. این احتمال هم وجود دارد که حکومت هند اسلحه، کیمیاوی را از روسیه حاصل و بکابل انتقال داده باشد. خرب، همرطنان اینرا بهتر میدانند که اسلحه، کیمیاوی به تعقیب اظهارات وزرای خارجه، روسیه، هند و ایران که گفته بودند «ایران موجودیت طالبان را در قندهار تحمل نمیتواند» (ایران)- «دوام و بقای حکومت کابل با منابع حیاتی روسیه و هند سازگار است... ما اجازه نمیدهیم طالبان دست بالاتر بر حکومت کابل داشته باشد...» (روسیه و هند)، برژیم کابل داده شده و بزعم این دولت ها گویا با دادن اسلحه، کیمیاوی بربانی - مسعود یك موازنه، نظامی ایجاد میکنند. اما هر کس میداند که دادن این نوع اسلحه، تباه کننده بیك رژیم آسیب پذیر، استعمال آنرا حتمی میسازد، و استعمال اسلحه، کیمیاوی بالای افغانستان معنی محو نسل و مدنیت را دارد، بنحویکه نیم نفوس متبالی افغانستان را محو و نابود خواهد ساخت.

حالا بر میگردیم بثبوت این موضوع که طراح اصلی این پروژه و همچنان عامل مهم تحصیل و دریافت اسلحه، کیمیاوی برای رژیم ربانی داکتر روان فرهادی میباشد. هرگاه هموطنان محترم بدو مصاحبه، رادیوئی داکتر روان فرهادی در یکسال گذشته (یکی با رادیو تورانتو در کانادا و دیگری با رادیو پیام افغان در لاس انجلس) یکبار دیگر بدقت گوش فرا دهند ملتفت میگردند که او بتکرار از موجودیت یك سنگر دفاعی غیر قابل تسخیر بدورادور کابل که بمثابه، خط مازینو توجهه شده بود، حرف میزد. اینرا هم هموطنان شنیدند که خط مازینوی تصوری احمد شاه مسعود توسط طالبان مثل پنیر بریده شد. از آن ببعد داکتر روان فرهادی، یك بدنام بد عمل- رحیم غفورزی، اکه اخبار عیاشی و روابط نا مشروع او با سکرترش در دفتر ملل متحد در جریده دعوت و خبر ازدواج دوم او با یکزن بیوه در کابل در شهر کابل و سرتاسر امریکا پخش شده و شرابخوریها و مجالس شبانه، او در نیویارك نقل مجالس افغانها ست) را بحیث نماینده سفارش کرد تا خود وقت کافی برای کارهای مهمتر داشته باشد. در مدت هشت ماه گذشته روان فرهادی کمتر به نیویارك و اکثر بخارج امریکا بوده، او که در مؤسسه ملل متحد نزدیکترین مناسبات را با سفیران ایران و هند داشته است، آنها را متقاعد ساخت تا برژیم ربانی بمنظور تنازع بقا اسلحه، کیمیاوی بدهند. بدین ترتیب داکتر فرهادی بزعم خود موجودیت دایمی خود را بحیث سفیر ربانی در نیویارك تثبیت نموده است. اینهم مبرهن است که ربانی و جوان بچه لفرائی بسیاست نمی فهمند و سیاست خارجی رژیم ربانی از نیویارك (البته بمشوره و مصلحت حلقه، امید در کلفورنیا) ساخته و تطبیق میگردد.

آئینه، افغانستان با افشای این موضوع مهم و حیاتی که رژیم ربانی بمنظور قتل عام مخالفین خود اسلحه، کیمیاوی دارد، عجالتاً موضوع را طور متحدالمال باطلاع مقامات دولت و سنای امریکا و همچنان ملل متحد رسانده، و از ملت قهرمان افغان تقاضا میکند تا مکلفیت و مسئولیت تاریخی خود را در زمینه ایفاء نماید. و من الله التوفیق

د گډون بیه	شپږمیاشتنی	کالنی
پاکستان	Rs. 200	Rs. 400
د خلیج هیوادونه	SR. 150	SR. 300
اروپا او امریکا	$: 75	$: 150

د کابل اداره له هغو افرادو څخه ...

په نتیجه کی روسان مات او داخلی کمونستان را پرزول، نو موږ داځه درلوده چی په هیواد کی به اسلامی نظام حاکم شی، خو د دین او وطن مینه په چوکی او منصب بدله شوه، ملی شتمنی چور شوه، وحشت او بربریت اوج ته ورسید، د مسلمانانو شرف او عزت ترگواښ لاندی راغی او په وطن کی هغه څه پیل شول چی نه اسلام اجازه ورکوی او نه افغانیت نو د علماو کرامو دفتوی له مخی د طالبانو اسلامی تحریك پیل او ترنیمایی افغانستان زیاته برخه یی له ظلم او فساد څخه پاکه کړه.

د کابل د اداری د ناروا واکمنی په اړه یی دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل: دغه اداره له هغو افرادو څخه جوړه ده چی ملت شړلی دی او په ملت کی ځای نه لری، موږ باور لرو چی پر دوی باندی ملت باورنه شی کولای او حتماً له ناکامی سره مخامخ دی.

د خوست د امنیت او اجتماعی حالاتو په اړه یی دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل: کله چی زه خوست ته دوالی په صفت راغلم الحمد الله حالات د ډاډ وړوو دولتی او نوری ټولنیزی اداری منظم کارونه پر مخ بیایی، د دی ولایت زیاتره ولسوالی د طالبانو لخوا فعالی کړی شوی وی، اوس دباك اوعلی شیرو په ولسوالیو کی یوه سرحدی لوا فعاله شوی او دیوه عسکری روغتون په فعالولو مو لاس پوری کړی دی. همدارنگه موږ کوښښ کوو چی د خوست هوایی ډگر د الوتنو لپاره فعال کړو چی په دی اړه لومړنی تدبیرونه نیول شوی دی، لنډه دا چی اوس د خوست خلك په ډیره ارامه فضا کی د خپل ورځنی ژوند چاری پر مخ بیایی.

د طالبانو د اسلامی تحریك په وړاندی دیو لې خنډونو د موجودیت په اړه یی دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل: که څه هم زموږ د دین او وطن بهرنی دښمنان کوښښ کوی چی په افغانستان کی جنگ او جگړی دوام ومومی او افغانان ددی توان پیدانه کړی چی په یوه اتحاد او دورورۍ په فضا کی ژوند وکړی، خو د طالبانو اسلامی تحریك به د مهربان خدای(ج) په مرسته خپلو رغنده هلوځلو ته دوام ورکوی تر څو په هیواد کی د اسلام تر بیرغ لاندی امن او استقرار راولی.

په پای کی مولوی سیدعبدالله وویل د طالبانو اسلامی تحریك دلوی خدای(ج) په مرسته او دهیواد د سپین ږیرو، قامی مشرانو، پوهانو، دجهاد د مجربو قوماندانانو او مخلصو مجاهدینو په همکاری پخپلو ټولو پروگرامونو کی زیات بریالیتوبونه تر لاسه کړی او موږ امید لرو چی ژر به په ټول افغانستان کی د ظلم او فساد ټغر ټول شی، اسلامی شریعت به نافذ شی او زموږ هیواد وال به د اسلام په سیوری کی خپل ډاډ من ژوند پیل کړی ■

له کابل اداری سره د حزب جگړه د څه دپاره وه او اوس...!؟

دورستیو رپوټونو له مخی کله چی حزب اسلامی د کابل له ائتلافی اداری سره د څو په اصطلاح دولتی پوستونو او یو شمیر هغو نوټونو د ترلاسه کولو نه وروسته چی دغه گوند به له خلکو څخه د ناچله نوټونو په بهانه لوټول او شکول، دکابل په ائتلافی اداره کی د خپل گوند دیو شمیر اصولی ملگرو د مخالفت سره سره د گډون کولو فیصله وکړه. او وروسته یی غوښتل د همغږی دشوری غړی گوندونه هم ورسره ملگری کړی، تیره هفته په مزار شریف کی د همغږی شوری غړیو گوندونو د کابل له اداری سره د حزب اسلامی هغه پلان چی دوی هم ورسره شریك کړی رد کړ. دهمغږی شوری رئیس جناب حضرت صاحب صبغة الله (مجددی) لا پخوا دغه پلان رد کړی، او ویلی یی وو (چی دیوی ورځی دپاره د ربانی ریاست او قیادت منل دا معنی لری چی دغه څلور کاله جگړه بی معنی او ناروا کار ؤ.) دهمغږی د شوری دغه انکار رښتیا هم اصولی او عقلی بنه لری، عام خلك په دی نبه پوهیږی چی د څو کاله جگړو، په زرگونو وژنو، تباهیو او بربادیونه وروسته د څو بی صلاحیته پوستونو او بی پشتوانی افغانیو په بدل کی بیرته هغه فاسده اداره منل هیڅ معقولیت او دیانت نه دی، بلکی په دغه مجاهد ملت باندی له ملنډو وهلو نه پرته بل هیڅ معنی نه لری.

خو اوس چی حزب اسلامی د خپلو گوندی غړیو او قوماندانانو له خوښی نه پرته او دهمغږی د شوری د غړو گوندونو له انکار او تردید سره سره، دا فیصله کړی ده چی د کابل ائتلافی اداره تائید او اوس له هغی څخه د دفاع په خاطر دومره مسلمانان افغانان ووژنی لکه څومره چی یی د هغی د ړنگولو دپاره وژلی او قربانی کړی ؤو. له عامو خلکو سره ډیری پوښتنی پیدا کیږی چی د حزب اسلامی دغه جگړه دڅه دپاره وه؟

- که جگړه د دی لپاره وه چی د کابل اداره د جمعیت اسلامی، ستم ملی، شوری نظار، شعله جاوید او پرچمیانو یو گډ ائتلاف ؤ، نو دغه ائتلاف خو اوس هم شته؟

- که جگړه ددی لپاره وه چی د دغی اداری، اداری پرسونل او کارکونکی ټول پخوانی کمونستان ؤو او یو څو تنه مسلمانان تش په نوم یی واکه او بی اختیاره په وزارتونوکی ناست ؤو، خو اوس هم اداره ټوله د کمونستانو په لاس کی ده؟

- که جگړه د دی لپاره وه چی په دولتی دماغ او اراده باندی پخوانی خاد او KGB مسلط ؤو چی دکابل د اداری ټول نظامی پلانونه، سیاسی ارتباطات هغوی جوړول، چی په هیواد کی د ننه یی افغانان په خپلو منځونوکی په جگړو اخته کړی ؤو، او دکابل د اداری سیاسی او نظامی اړیکی یی له پخوانیو بادارانو (روسیی، هند او نورو کمونستی هیوادونو سره جوړی کړی او ټینگی کړی وی، نو هغه خاد او KGB خو اوس هم مسلط دی، او روس او هند یی باداری کوی؟

- او که جگړه ددی لپاره وه چی ربانی په غیر قانونی توگه په قدرت باندی خیته اچولی او نه پریښودی په افغانستان کی یو قانونی مرکزی مضبوط حکومت رامنځ ته شی، او افغانستان له دغی غمیئی څخه خلاص شی، نو ربانی خو اوس هم په غیر شرعی او غیر قانونی توگه مسلط دی؟

- که جگړه ددی لپاره وه چی ربانی د روس په غلامی کی دومره وړاندی تللی دی چی د افغانستان د څوارلس کلنی او حتی اتلس کلنی جگړی له مسؤولیت څخه یی هم خلاصوی، او اعلان کوی چی روسان د افغانستان د جگړی مسؤول نه دی، نو ربانی خو دغه اعلان بیرته نه دی اخستی او حتی د روسی الوتکو په بمباری باندی چی د ده خپل بدخشانیان وژل کیږی، هغه هم نا معلومی الوتکی بولی او په دی توگه د افغانانو له وینو سره لوبی کوی؟

او نور داسی بی شمیره د جگړی اسباب او عوامل چی د حزب اسلامی خپل اخبار شهادت ورڅخه ډك دی، اوس هم موجود دی، نو د حزب اسلامی او کابل اداری دغه اتحاد او یا دقدرت په سر سودا د ټولو افغانانو په تیره بیا د هغو مینهو، پلرونو او خویندو لپاره د سختی ژړا او خواشینی ځای دی چی په څلور کلنه بی هدفه جگړه کی یی خپل زامن او ورونه له لاسه ورکړی دی، او یا خو ددغه گوند د راکټونو او توپونو له لاسه بی شمیره د حزب اسلامی دغه غیر اصولی او عاطفی دریزونو په غوره کولو سره داسی نه بنکاری چی د افغانستان د مظلوم ملت دغه روانه تراجیدی او غمیئه به پایته ورسیږی، بلکی د حزب او کابل اداری موجوده غیر اصولی یو والی او نږدیوالی به په هیواد کی دیوی بلی لوی غمیزی پیلامه وگرزی، چی نښی نښانی یی له ورایه معلومی دی ■

دطالبانو اسلامی پاڅون پخپلو ټولو ترلاس لاندی ساحو کی اسلامی شریعت نافذ کړی دی

ثور ۲۷: د هلمند د ۱٤ فرقی په انگړ کی یوه غونډه جوړه شوه په غونډه کی د فرقی او دهغی د مربوط قطعاتو مسئولینو برخه واخیسته غونډه د قرآن کریم په څو آیتونو پیل شوه.

وروسته د ۱٤ فرقی دمالی چارو مسئول مولوی دین محمدثاقب د خپلو خبرو په ترځ کی څرگنده کړه چه زموږ اسلامی پاڅون د هیواد پخپلو ټولو ترلاس لاندی ساحوکی اسلامی شریعت نافذ کړی او موږ به ددی کار لپاره پدی لارکی له هیڅ قسم قربانی څخه ډډه ونه کړو.

په پای کی د ۱٤ فرقی قوماندان خپلو منسوبینو ته د خپلو کارونو د ښه ښمبالښت توصیه وکړه او له هغوی ئی وغوښتل چه د اسلامی پاڅون داهدافو د تحقق لپاره خپلی نه ستړی کیدونکی هلی ځلی په کار واچوی، غونډه په مسنونه دعا پای ته ورسیده

چهل تن دریور در یك سرای ...

در یك و نیم کیلو متری به اصطلاح قصر جمهوری و وزارت دفاع اداره، نام نهاد و غیر اسلامی کابل مورد چور و چپاول ده تن از افراد مسلح قرار گرفتند که از آنها بیست ملیون افغانی و چند قاب ساعت دستی را به زبردستی وضرب قنداق باخود بردند ■

یادونه

بنایی ستاسو ایمان به اجازه در نکړی چی دا ډول سپیڅلی پاڼی په ناوړو ځایونو کښی وغورځوی.

(اداره)

SHARIAT WEEKLY

Publisher : Islamic Movment of Taliban of Afghanistan.

Editor -in- Chief : Movlavi Ahmad Jan.

Tel : 840378

PAK - RUPE A/C. CD. No. 1694 -69.

Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch (Code 0267)

Peshawar, Pakistan